دویم چاپ

# خوشبو نه وینه
# د رنګونو څاڅي



طائر ځلاند

# خوشبونه وينې د رنګونو ښاخې

د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: خوشبو نه وينه د رنګونو ښاخې
شاعر: طاير ځلاند
خپرندوی: د ختيزې سيمې ليکوالواوژورنالېستانوخپلواکه ټولنه
د خپرندويې ټولنې ګڼه:
مهال: ۲۰۱۰
چاپ وار: دويم
لومړی چاپ: ربيع الاول ۱۴۲۹هـ ق
چاپځای: دانش خپرندويه ټولنه ، دهکې نعلبندي

Pukhto.Net
پښتو

داحساس د هغې سېځلې څړيکې په نوم
چې په نړۍ کې د امن د ناوې سنګار غواړي
او د ښکلا وجود ته دوام بخښل يې ارمان وي

طاير ځلاند

Pukhto.Net
پښتو

# بسم الله الرحمن الرحيم

Pukhto.Net
پښتو

خوشبو نه وينه درنګونو ثاڅي

# فهرست


- د ځان په حقله — طاير ځلاند
- مصلحت چې زر دارانو سره نه کړي — سليم راز
- تقريظ — محمود اياز
- د دستار سړي په شمار دي — قيوم مروت
- فاتحـــــــــــــــــــــه (حمـــــــــــــــــــد)

- په مکان کې که حامد دی لامکان کې محمد دی
- ژوندی کردار — نعتيه نظم
- نه د ژوندون په خوږو پوئ شو او نه ښاد و اباد
- ما کړه شپه تېره په تيارو کې خو تا کړمه خاورې
- چې مې د ذهن په ورشو کې شور دباد ولاړ دی
- ولاړ په نزاکت چې دی اساس د اينې
- زۀ په خپل ژوند کې يوه نوې تجربه کومه
- دا چې تېرېږي راتيرږي د منظر په لمن
- په خپل وجود کې دروغ هم د رښتيا زيري راوړي
- که مو وجود په کې ختميږي که د کاره او ځو
- هم تنهايې ده او هم يم په اضطراب کې راګير
- چې ورته ورکړې يو نظر کې مکمله ټکور

## خوشبونه وينې د رنګونو څاڅي

♥ د تعبيرونو په لټون نظم
♥ بيا اوربل اوربل دی په قدم قدم
♥ خبر دی ملګرو که کړې دي او اوړدې لارې دي
♥ پوهېږم چې ضرور به د اسمان له حده اوځم
♥ چې لفظونه له اظهاره دي وتلي
♥ لکه ملهم په هر پرهر کې اوسو
♥ نن، چې بدله وه سحرنه د هوا اراده
♥ چې په رنګونو جانان ولمبېده
♥ يمه جدا خو ځان جدا حسابولی نه شم
♥ هنداره ماتې شوې او شو عکسونه وينې وينې
♥ ستا د نظر د وسعتونو حد له ورسېدم
♥ د اميد څراغ نظم
♥ هم يې دنن دورادا هم يې زړه پېژنم
♥ ځئ، چې ورځه کې نيمګړی سفر تام شي
♥ چا چې رنګ په رنګ حلال کړل هم هغه يې د سرتاج
♥ سپوره خبره له مودو پس يې بيان کې نه وه
♥ ما چې خپل فکر د ژوندون کوثر کې اولمبوه
♥ ځای په ځای نظر ولاړ
♥ داسې څوک نيشته، چې درزا مې د زړګي ونيسي
♥ چې د احساس په اور وريته وو خلق
♥ نه يې بدل شولو د تلو نه د راتلو روايت
♥ مزل کوي ازغو باندې بيا هم نه ستړي کېږي
♥ ماته څه کول پکار دي نظم

## خوشبونه وينې د رنګونو څاڅې

- د ژړې شپه وه خطر ډير وو څراغونه نه وو
- د عشق د پولې نه وراخوا احتياج ښکاريدو
- په خپلو اوږو باريو په سپېرۀ سپېرۀ ماحول کښې
- ځوانه مې ارزو شوله پخې مې ارادې شولې
- دې يو عذاب کې مبتلا له زمانو راهيسې
- چرته پريږدې مو د ژوندون مشاهدې ته حالات
- رات کے رانې نظم
- سپوږمۍ سره خواله نظم
- حالات له ما دڅه سزا اخلې
- که هر څو تياره تياره ده خوره شوې توره شپه ده
- د رواياتو د محل اشتهار
- د ژوند سپېره دشته کې واړه مزل
- شبنم که ژوند کوې دګل په اوږو
- ډيره موده وشوه خندا نه کوې
- خور اندام اندام وجود مات قلم قلم بدن
- دلمر شعلې چې شي راښکته سمندر کړي لمبه
- هم ترې رڼا اخلې هم ګوره لمرونه وژني
- هيلې اسرې خاورې شوې ارمانه رتنها پاتې شوم
- ستا دتصوير په ليدو نظم
- هغسې تور دې په لوګو وران ديوالونه دکور
- څه عجيبه دې کردارونه په قيصه کې دوخت
- سپرلو خو ټول عمر راوړلې درنګونو جامې
- چې په قدم قدم ريزه ريزه خپل ذات راټول کړم



Pukhto.Net پښتو

## خوشبونه وینې د رنګونو څاڅي


- واړه کائنات لمحه لمحه د چا
- شو سترې د ژوندون له منا جاته هر وګړی
- ما یوسي دلته په دا لباس کې راشي
- سا یه د زلفو او لباس د نور نومونه د شپې
- د الهام هرې فرښتي په مقدسې نامې
- برکت اخلي سا له قرب و له دیاره خلق
- نه د ګلاب په څېر نازک او نه د غرنو په رنګ
- د ژوند رنګونه نظم
- ښاخ نظم
- ارزو نظم
- ګلان د خلقو او ازغي زمونږ په برخه باندې
- عکس دی خو د ګونګې آیینې له قیده وتې دی
- عجب سړی یمه ګلاب د بیابان نه راوړم
- د ژوند ښائست ته لباسونه د ښکلا کړئ په ځان
- تل مې د ظالم خلاف نعره کړې
- ګمان پرېده بس خپل ځان نغاړه د یقین لباس کې
- حسن سپینه ایینه ده نظم
- هستي نظم
- د ګل د شونډونه به وینې څاڅي سندره
- دا یو دستار او یوه توره مې ده لاس کې پاتې
- چې ازاد نه یو له ګمانه اطمینان راشي له کومې خوانه
- له ځانه زغلو د خپل ځان په سویرې ونه درېدو
- ګلو بلا ئزیشن نظم


Pukhto.Net

## خوشبونه وینې د رنګونو څاڅي

- په لورې د یقین چې د فکرونو کډې لاړې
- هسې دې نه وایې دا خلق چې هنر نه لري
- د زلفو چم کې دې د فکر منارونه لویږي
- اې د ښکلا د ښار امیرې تا ته یاد شي که نه    نظم
- خو شبو نه وینه د رنګونو څاڅي    نظم

## د ځان په حقله

تخليق د تخليق کار د ذات اظهار وي . د ذات دغه اظهار يا خو دخپلې خدايې د څرګندولو دپاره کيږي او دياد خپلو هغو احسا ساتو دپاره تخليق کار د ذات په اظهار کيږي چې سينه کې يې پټ وي. هو بهو لکه دګل چې د خوشبو دپاره په خپل ځان زاره چاودون تېروي که دګل خوښه وي او که نه خو دغوټۍ دغېږې نه خوريږي. دا که کم ظرفي ګڼئ او که نفسياتي بيماري. خو ولې د ذات داظهار دغه صنعت يو فطري عمل او طبعي غوښتنه ضرور ده څومره چې انسان د خپل فطرت سره نږدې وي نو هم ه غه او مره يې تخليقي تواني زياته وي په حقيقت کې هر انسان د ذات اظهار. غواړي. ولې چې د هر انسان پسې د ښکلا يو احساس لږی وي ! او د تخيل په ملتيا د ژوند د نيمګړي تصوير د لا ښائسته کيدو هڅه کوي. ددغه احساس څرګنديدو دپاره انسان د فنون لطيفه لاره غوره کړي او د خپلو فطري خصوصيتو نو مطابق د ذات د اظهار دپاره د فنون لطيفه يوه شعبه کې تخليقي عمل شروع کړي بائد مونږ په دې غلط فهمۍ کې مبتلا نه شو چې د ذات اظهار يو انفرادي عمل دی بلکې (( ذات )) يا په نورو لفظونو شخصيت ديو اجتماعي ماحول او د معاشرتي رواياتو او تهذيبي اقدارو په سوري کې جوړيږي نو مونږ چې کله د ذات د اظهار خبره کوو نو دلته زمونږ مطلب فقط ((فرد )) نه وي بلکې مونږ په ضمني توګه د هغې اجتماعي (( ذات )) يا شخصيت ذکر کوو کوم چې دفرد په ذات کې کډ وي زۀ په دې خبره پوئ نه يم چې

زۀ کله شاعر شوم. او د الهام ښاپيرۍ ما سره د ژوند په کوم ګودر کې مخ شوې ده شائد زما د پېدائش سره سم زما رشته ددې ښاپيرې سره تړل شوې وه. هغه وخت دې زما د ذوق پالنه کوله هغه وخت به زۀ ګونګ وم د وړکوالي نه به ما د خپل ذوق تسکين د فنون لطيفه په فنپارو کولو او بيا چې ما په ړومبي ځل کله د جمال ننداره وکړله نو بيا خو بس ما د پاره د فرار بله لاره نه وه خو په دې وخت کې زما شعور هم سترګې وغوړلې په کم عمرۍ کې زۀ د خپل ذات د تضاداتو (( زړۀ او عقل ))په کشمکش کې راګېر شوم زما دا مجموعه دهمدغو لمحو پېداوار وګڼئ ما چې څه محسوس کړي دي هم هغه مې د شعر جامو کې رانغښتلي دي. ماته چې خپل ماحول څه راکړي دي ما هم هغه ببرته ورکړي دي. ما چې څه ليدلي دي هم هغه مې بيان کړي دي. خو زما خپل کوښښ او هڅه دا ده چې خپل شعر ديويشتمې صدۍ د غوښتونو مطابق وليکم. يويشتمه صدۍ له مونږ نه څه ادبي غوښتنې لري ما دپاره د يويشتمې صدۍ غټې غوښتنې دا ښکاري چې بائد زمونږ ادب په تخليقي معياراتوپوره وي او بائد مونږ په خپل ادب کې دپښتني تهذيب د اقدارو پالنه وکړو زۀ دا دعوه کول ځان ته روا نه ګڼم چې ګڼې ما به ددې عصرې تقاضو دپوره کيدو دپاره کار کړی وي خو ولې احساوس يې راسره ضرور شته زۀ هم دا غواړم چې زما قام دې د نړۍ د قامونو نه کم نه وي هم دعلم په ډګراو هم دمعيشت په ډګر کې زما قام او زما وطن د مسلسلو بحرانونو نه تيريږي زۀ هم په همدې اولس کې او په همدې زمکه اوسم ددغه بحرانونو په فضا کې زۀ هم سا اخلمه او همدا وجه ده چې زۀ يې د خپل عمر نه څو ګامه مخکې کړی يم درنو

په لومړي ځل چې کله ما دکتاب دچاپ کولو اراده کوله نو له خپلې شاغرۍ نه مې دومره هيله نه وه ځکه چې اوس مهال شعري بهير ډير پياوړې شوی دی دی

خو چې کله زما شعري ټولګه دمشرانو ليکوالو له خوا وستايل شوه نو يو څه هيله مې پيدا شوه او خپل کار ته مې نوره هم پاملرنه وکړله ما غوښتل چې خپله نوي

شاعري چاپ کړم خو چې کله رانه دوستانو او لوستونکيو مسلسل ددې کتا ب دچاپ غوښتنه کوله نو ما هم خپله ازاده بدله کړه او دختيزې سيمې دژورنالستانو او ليکوالو دحپلواکې ټولنې نه مننه کوم چې هڅوي ددې کتاب دچاپ کولو بوج پرخپلو او ،ږو واخيسته په اخر کې له ټولو دوستانو نه مننه کوم چې حوصله افزايي يې ددې جوګه کړم چې يو ځل بيا درته دا ټولګه وړاندې کوم

((طاير ځلاند ))

5-4-2010

کابل

Pukhto.Net
پښتو

طائر ځلاند .

مصلحت چې زردارانو سره نه کړي

سليم راز .

دطايرځلاند دشاعرۍ په لوستلو سړی فکر واخلي چې دادومره کم عمر او دومره زيات حساسيت ؟ دی ژوندی څنګه دی .لمبه شوی . ايری شوی ولې نه دی؟ يقينا چې همداسې به شوی و خو که شاعر او فنکار نه وی . او شاعري يې دخپل احساس اوجذبې داظهار وسيله نه وی ګرځولی .شايد داحساس هم دغې اذيت او دجذبې همدغه شدت شاعر کړی او تقليدو نه يې بچ کړی دی بلکې ورته يې دفکر اونظر په حواله يو دردمند زړه او روښانه ذهن وربخښلي او داسې يې ديو واضحموقف قلمکار ګرځولی دی . چې تشه شاعري يې دتعارف وسيله نه ده ، بلکې دحسي تجربو په تخليقي عمل کې دبدليدو په تناظرکې دخپل ذمه دارارنه ،فنکارکردارتعين کول يې دخپل شناخت معتبره حواله ښودلې ده

طائره تعارف لره هنداري ضرور نه دي
څرګند شي بس چې څه دی له خيالاته هروګړی

هم دغه يې دشاعرۍ حقيقي روح او دشخصيت ريښتونی عکس دی چې شاعر يې دځان په حقله کرښو کې تصديق او اعتراف کړی دی چې زه يې دشاعرۍ دمطالعې او تجزيې په رڼا کې دخپلې تنقيدي رايې تائيد ګڼم . ځکه چې زه يې دادب دنقادانو ددې وينا په عملي اهميت او سماجي حقيقت پوه يم چې ادب دشخصيت

داظهار نوم دی. او دغه شخصيت دخپل فطري انفراديت باوجود دخپل ماحول او سماجي جوړښت ترجمان.عکاس او نماينده دوي ځکه دا اظهار مجرد نه وي بلکې دخپل چاپيرچل دحالاتو او واقعاتو دعکس و نقش په زاويوا و رويودتشکيل او تکميل مرحلې سرکوي،

حقيقت هم دا دی چې فن او شاعري دشخصيت نه دفرارنوم نه بلکې دشخصيت داظهار نوم دی دا اظهاراو اقرار دطائرځلاند په شعرفن کې صفا جوت دی چې شاعردذات او دهغه دفکري کائنات څرګندونه او پيژندنه کوي چې په فنکارانه خلوص او منصبدارانه ديانت دخپلې خاور او اولس ترجماني او دمعروضي حالاتوعکاسي هم کوي داسې دخپل ژوند سماجي رشتو او پيداواري تعلقاتو په فکري او فني حواله نمايندګي يې دشخصيت برخه وګرځي په فن کې دغه دشخصيت داظهار مسئله بللی شي چې دفنکار دذات او فکري کائنات نه بيل او بدل هيڅ کله نه وي څنګه چې دامريکې يو روښان فکره باشعوره او باضميره شاعر والټ وائټمين وايې،

[محض دتخيل او دلفظونوراټولول دفن او شاعري نه ده بلکې ديوشاعراو فنکاردپاره دژوند اوکوټلوحقيقتونو څخه اګاهي بې حده ضروري ده،]

او داځکه چې تخليق يو سماجي عمل دی چونکې ادب په خلا کې نه تخليق کيږي او شاعر اديب او فنکار په يوه مخصوص سماجي چوکاټ کې ژوند کوي او هم هلته تحليقي شعورمومي تخليقي عمل کويا دخپل چاپيرچل نه اثراخلي چې څه ويني او محسوسوي نو دهغې اظهار په خپله تخليقي شعور او فني صلاحيت په داسې هنر ،خلوص او ديانت کوي چې تخليق او فن يې نه يوازې دژوند ائينه وګرځوي بلکې شخصيت داظهار دهغه دنظراو نظريې دپرچار وسيله او ذريعه هم ثابت شي او دادب دپاره دژوند دمفکورې اوموقف ملګری او علمبردار وبلل شي ، چې دطايرځلاند شاعري يې يوواضح مثال او مصدقه ثبوت فراهم کوي ،

Pukhto.Net

+او طائر ځلاند يې په خپلو وړومبو خبر وکې تائئد او تصديق کوي
د طايرځلاند شاعري يوائې د هغه د دردېدلو احساساتو ترجماني نه کوي بلکه د هغه د عهد او سماج د معروضي حقايقو تاريخي او ساسي عکسونه هم لري، چې دجنګ جبر او جهل په تيارو کې يې خلک ورکړي دي اويوبل سره يې په پټوسترګو په شر اخته کړي دي دتهذيب او تمدن په ځاى يې وحشت او دهشت راخور کړى دى، داستسمار او استعمار په پنجه کې يې انسان او انسانيت ذليل کړى او رسوا کړى دى ،کلاشنکوف کلچر او درک مافيا دژوند اعلي قدرونه پايمال کړي او په زور ظلم او جبر بنيادي انساني حقوق عصب کړي دي، چې دمکالمې جمهوري کلچر يې هم له منځه وړى دى په دغه بدرنګه او بې ننګه منظر نامه کې طايرځلاند شاعري کوي په غم او فکر کې ډوب دزړه درد ته ژبه ورکوي. او ژوبل ژوبل احساس ته قوت وربخښي يو خوا د خپل احساس ترمخه دتاريخ جبر چلينج کوي او بل خوا دخپل شعور په رڼا کې دخپل احتيار وسله لټوي ،چې دبدلون او سمون په جنګ کې يې په کار راولي دشاعر په لړمون او بين السطور کې ې همدغه جذبه کارفرما ده او په واضحه دامېد څراغ نومې نظم کې غزونې او سرغړونې کوي، چې دفکر سفر پته ترې لري .ولې دمزل لارې يې نااشنا او نامالومه دي ، بيت

په دې امېد په دې ارمان په سرو سکروټو باندې
يمه روان په نابالده اجنبي کوڅوکې

او زمونږ داشاعر نابلده او اجنبي کوڅوکې ځکه روان دى چې دسماجي ساينس مطالعې ته يې وخت نه دى ورکړى او صرف دزړه اووجدان په لمسه او ډاډ راپورته شوى او روان شوى دى او همدانښه يې هغه په سفر خو دى ولې لاره نه پيژني نابلده اجنبي ورته مالومېږي په خپله عملي سياسي مبارزې نه هم يوځنګ ته دى ،او دخپل شعر مطابق سياسي لاربښود هم نه لري.شعر

Pukhto.Net

# خوشبونه وينې د رنګونو څاڅې

هسې دې نه وايې داخلک چې هنر نه لري
پښتانه هرڅه شي کولی خو رهبر نه لري

طايرځلاندچې څه ليدلي او محسوس کړي دي هغه يې لمحه ديوماهرفوټوګرافرپه شان کاغذته منتقل کړي اومحفوظ کړي دي، چې د احساس اوشعوردشدت او جدت اندازه خو ترکيدی شي ولې په ذهن کې موجود دنوې منظرنامې خدوخالپه کې واضح نه دی، چې لکه دمصوردتخيل دکرښواورنګينو په تخليقي امتزاج او دشاعرداحساس اوشعورپه تعميري مزاج رغيدلی شواو په هغې بنياد اولس خصوصانويکول دخپل عهددانقلابي شعورپه روزلوديونوي سماجي وجوددقيام خوًبونه رښتياکولوته دفکروعمل په اتحاد لارې لټولې اوسمولی شوځه ته، چې زمونږدې زلمي باهمته او ترقي پسند شاعراشاره کړې ده اودمايوسه کيدلونه يې چورلټ انکارکړی دی،

هنرزده کول غواړي درناطلب دپاره
ترخوبه مونږ اوسيږو په تياره ماحول کې
اوبيادحرکت جذبه يې څه منطقي جوازلري،
ستوري خو نه يوچې پابندشو ديوې دايرې
مجرمان ولې شو چې مونږه له مداره وځو

شاعردجنګ پرسته قوتونوپه تلسط کې، چې خپل ګيرچاپيره نظروکړي نو بې اختياره غږوکړي، چې

ددې بازار ميلوڅه بل شانې دستور درلوده
ښه ارزانې وه دسرونوقيمتونه نه وو
هم په دغه تناظرکې دحالاتوجبرته داسې اشاره کوي،
داسې محلت کې مې ګذران دې دژوند په ډګر
دورځې کاروکړم دشپې دځان پهره کومه

## خوشبونه وينې د رنګونو څاڅي

په يوبل ځای کې وايي چې،
زما رڼا رڼا وجود به ترهغې قتليږي
په دې کوڅوباندې ترڅوپورې د شپې لارې وي
په دې لړ کې دخپل محبوب په حواله دخپل غزل ذکرداسې کوي،
ستا په زلفوکې چې بوی وي دبارو تو
تغزل به مې خاصه څه دکلام شي
دغه ماحولياتي اثريې په نورو غزلوکې هم موجود دی لکه ،
له دروازې نه بهرنشته دی امکان دامن
سم دماښامه بندوي خلک ورونه دکور
هريو ديوال باندې دکلي تورکارغان دې موجود
سپينو کمترو نه خالي دي ټول برجونه دکور

غرض داچې طايرځلاند په شاعرۍ کې خپل ماحول معاشره او ژوندډيرپه فنکارانه کمال پيش کړی او اولس ته يې بين السطورکې ددې بدلولواحساس اوشعوررورکړی دی. او په څه ناڅه حواله يې خپلې منصبي ذمه وارۍ پوره کړې دي. دطبقاتي معاشره په خپل فطرت کې دظلم.زور.جبراواستحصال معاشره وي،دنابرابرۍ ،بې انصافۍ او بدامنۍ معاشره وي،چې حسن اوصداقت په کې زورولی او چخنې کولی شي چې هيڅ يوحساس بنيادم خصوصا شاعراو فنکاريې هيڅ کله هم نه شي برداشت کولی،ځکه طايرځلاند دسرمايه دارانه رشتومخالفت او دسرمايه دارانه ذهنيت غندنه کوي سرمايه دارانه نظمام او سامراجي هتنکډې دانساني شرف اوتهذيبي قدرونو توهين اوتذليل ګڼي اودجمهوري کلچراو داظهار رايې دازادۍ ارزومند دی ځکه په دې حقله خپله تجربه داسې بيانوي،
مصلحت چې زرداراتو سره نه کړي
سرعام به خود زما فکر اعدام شي

ديوويشتمې صدۍ هم دغه غوښتنې دي،چې طايرځلاند پيژندلي او په خپل شعر کې يې ځاې کړي دي اوورسره په څنګ کې يې دخپلې فکري رويې اوفني زاويې په حواله دخپلو همزولونه ځان له يوځانګړی ځاې پيداکړی دی،خوپه خپلو خبروکې يې دکسرې نفسی نه په کارا خيستو دپښتوپه روان شعري بهيرکې دخپل مقام په ټاکلويوسواليه نشان مخې ته اودرولی دی چې زماپه خيال دتجاهل عارفانه يوه ښکلې رويه ده او هم دغه ورسره ښائي،خو راتلونکی وخت اودادب نقادان به يې اعتراف ضرور کوي ،دشاعردا انفراديت او په دومره کم عمرۍ کې دفکري بلوغت اوفني جدت اظهارپه خپل ځاې خو بياهم دخپل عصردشعري روايت نه يې ځان بيل کړی او بې برخې کړی نه دی خصوصاد درويش دراني اثرنه بچ نه دی پاتې شوی ؤ دهغه دفني اسلوبٌاو فکري رويې انعکاس په کې واضح ديطايرځلاندچې کوم تياره تياره ماحول کې په ژوبلاحساس کوم تخليقي شعورسره دادراک اواګاهۍ کوم عذابنه تير شوی دی هغې دهغه دمنزل په تعين کې بنيادي کردار اداکړی دی او په دغه لاره دسفر دتخليقي تجربو، نه په تيريدويې چې کوم انتقادي حس او علمي شعوراخستی دی هغه داادب اوژوند دجدلياتي رشتې په بنياد ترقي پسند ديځکه شاعري يې دترقي پسند ی اهمه تقاضې پوره کوي

دطايرځلاندپه فکرونظراو تخليقي عملکې دهنرصناعي اومهارت خو شته ولې مصنوعيت او رياکاري په کې نشته هغه چې دسماحي ژوند څه مشاهده کړې ده او په خپله کوموتجربونه تير شوی دی هم هغوورله نظرزاويه اوشعري رويه متعين کړې ده چې دهغه دتخليق لهجه اوشناخت ذريعه ګرځيدلې ده يقينا چې دې کې دهغه خپله دعلوم وفنون مطالعه دهم عصرادبي هلوځلوجايزه خصوصادترقي پسندادبي تحريک نه فکري استفادههم شامله ده چې يې نظرته وسعت بخښلی اوذهن روښانه کړی دی اوورته يې دابهام دتيرو نه بهر تازه هوا او پرانستې فضاء

کې دساه اخستو زمينه برابره کړې ده اوشاعري يې په مجموعي ډول دحقيقت نګارۍ داسلوب نماينده ګرځولې ده
دفکر و نظراو بيان و اسلوب دی تخليقي تجربوزمونږ دامنور شاعر په هره حواله معتبر کړی دی غره دې نه شي او له نظره دې نه شي ديوويشتمې صدۍ په شعري بهيرکې به يو لويې نوم او اهمه خواله لري خو که ژوند ورسره وفا وکړه تزحپلې
لارې نه اخوا ديخوا نه شو ګنې هسې خو نن هم
دسپين غر په غزلزار کې دجدت چې انګازې دي
دا اواز ستادې طايره دلته ستا دغزل راج دی
پای

Pukhto.Net
پښتو

## تقریظ

دښاغلي طایر ځلاند سره زما لومړي ځل لیدل په کواټ کې په یوه مشاعره کې چې د پښتو ټولنې ننګرهار د ملګرو له خوا زما په درناوي کې جوړه وه. وشول. طایر ځلاند ددې مشاعرې سټېج سکټري وو دې ښاغلي چې کله خپل غزل شورو کړو نو دنورو سا معینو سره ددهٔ غزل زهٔ هم ځان ته متو جه کړم چې دوه شعرونه یې په دې ډول وو

مـا کــړه شــپه تېـره پـه ازغـو کـې خـو تـا کړمـهٔ خـاورې
یــه د لمــر خیـرې او س بــه چرتــه وجــود وړمــه خــاورې
بېګــاه مــې بیــا ســتا د یــاد دشــتو کــې مــزل کــړی دی
ســحر ســحر چــې د ښــونــه خنډ وهمــه خــاورې

دا غزل چې ختم شو ما د ځلاند نه دیو بل غزل غوښتنه وکړه ځلاند چې بل غزل هم واورلو نو زما په ذهن کې طایر ځلاند د یو ښهٔ شاعر په توګه ځای پېدا کړو زما په شخصي فکر طایر ځلاند په رښتیا شعري بصیرت لري ما چې ددهٔ په شاعری کې د لـــــــــــــــــــــــــــور فکـــــــــــــــــــــــــــر

کوم تراخه حقیقتونه محسوس کړل شائد چې دا وخت یې په حقه وینا زهٔ د وضاحت کولونه قاصر شم خو دومره ضرور وایېلی شم. چې په راتلونکي وخت کې به دیو ښهٔ نومورې شاعر په حیث د ښو شاعرانو په قطار کې ولاړ وي

خاورې محمود یاز
کوټه
۲۰ـ ۲ – ۲۰۰۷

## د دستار سړي په شمار دي

هسې خو هر سړی تيارې کې تلل راتلل کولې شي خو داسې اسانۍ او ازادۍ سره يې کله کولی شي لکه چې په رڼا کې کيږي ادبي تخليق کاري بغير د علم نه يا د کم علم سره هم کيږي دې د پاري د مستند وعلومو ضرورت نه وي ځکه چې دا يوه خدايي ورکړې وصف دی خو علم د ادب د پاره د مشال ((څراغ )) کار کوي د فارسۍ او پښتو او اردو ژبو تاريخ مونږ ته دا ښايي چې د دې ژبو ديني عالمانو کې داسې ډير عالمان وو چې هغوئ د دغو ژبو دومره اوچت شاعران او اديبان وو چې نن يې هم کتابونه نه صرف تدريسي تقاضې پوره کوي بلکې د هغوئ تخليقات عوامو او خواصو کې يو شان مقبوليت لري لکه فارسي کې مولا نا رومي. شيخ سعدي. اردو کې مولانا ابواکلام ازاد او علامه اقبال په پښتو کې لکه خوشحال خان بابا او عبدالرحمان بابا. اګر که د علامه اقبال او خوشحال بابا په لړ کې د ديني علومو د با قاعده استادو درک نه لري ولې دوې ديني علم کې حد نه زيات درک (( پوهه )) لرله دد ې نوموړو تخليقات ځکه کلاسيک جوړشول چې دوئ سره دعلم رڼا وه او ددې رڼا په طفيل د هغوئ ليکونه مونږ د پاره د لارې مشالونه دي خو سړي ته چې خدې پاک د شاعرۍ وصف ورکړی وي. او مطالعه او مشاهده يې هم بشپړه وي نو دغه په تخيلاتو کې سپېڅلتيا . پراختيا . نزاکت. او جذباتو کې قوت او صداقت پيدا شي. له بده مرغه زمونږ پښتو شاعرانو اديبانو کې ډير کم شاعران داسې دي چې هغوئ په علم معمور وي او په تخليقاتو کې يې هم اثرات موجود وي ددې وصف نه ډير محروم دي او هم دغه وجه ده چې ډيرو ليکوالو د ادب د تخليق په ميدان کې ورد وکړو څه موده يې په چل ول وخت تير کړو بيا تل د پاره پس منظر کې خوندي شول او نن يې صرف نامې پاتې دي بلکې د

ډيرو خو نامې هم ورکې شوې
زۀ دلته نن ديو داسې شاعر تعارف کول غواړم چې د شاعرۍ عمر خو يې کم دی چې خپل عمريې هم اتلس کاله ((۱۸)) دی ظاهره ده چې دې تنکي عمر کې د سړي شاعري هم تنکۍ وي ځکه چې د تخليق ميوه د عمر سر پخيږي. تاسو به حيران شئ چې ددې ځوان ((چې نوم يې عتيق الرحمٰن دی او د طاير ځلاند په نوم يې قلم راخستی دی ))دومره پوخ کلام څنګه ليکلی شي ؟ او دتخيل او فکر پرواز يې څنګه دومره اوچت کيدی شي؟ په اول ځل چې ما خپله دهغه کلام واوريدۀ او دهٰغۀ شکل و شباهت(( کرۀ وړۀ )) او عمر ته مې او کتل چې لا يې ږيره بريت هم پوره شنه شوي نه وو نو زړۀ کې مې پرې دا فتوه وروتپله چې دا شاعري ددې کم عمره ځوان نه شي کيدی چانه به يې سرقه کړې وي. خو روسته راته په تنقيدي غونډو کې داپته ولګيده چې طاير ځلاند يو پوۀ زلمی دی او تخليقي صلاحيت لري او ددې نه هم خبر شوم چې د ديني علومو زدکونکی هم دی چې ډير زر به انشاءالله(( دستار )) وتړي. لو د هغه کلام کې اوس نه ماته داسې اثار ښکاري د چا په باره کې چې خوشحال خان بابا ويلي دي *چې دستار تړي هزار دي * د دستار سړي په شمار دي * طاير ځلاند په دې کم عمر کې دخپل پاخۀ کلام دکبله بغير ددستار نه دستار تړلی ښکاري ددې زلمي پلار مولوي شمس الحق د افغانستان د شخړې له کبله د ننګرهار نه دلته کواټ ته راکډه شو او په کواټ کښې ورته خدای پاک په ۱۹۸۷ء کې يو عقيق په انعام کې ورکړو چې نامه يې پرې عتيق الرحمٰن کيښوه نن سبا د پښتو تولنې مشر سکرتر دی دکلام دا څو نمونې يې تاسو ولولې اميد دی چې تاسو بي زما د پورتنۍ دعوې تصديق وکړئ او ماته به څوک د مبالغې ارايې ګوته ونه نيسي د کلام نمونه يې داده

هغه د ژوند د جستجو په لذت څه پوهیږي
څوک چې دي يخ سوري ته ناست او په سر لمر نه لري

د جمود وربه ماتيږي دا پخه مو عقيده ده
شروع شوي دي کوڅو کې د فکرونو احتجاج دي

داسې محلت کې مې ګزران دی د ژوندون په ډګر
د ورځې کار وکړم د شپې د ځان پهره کومه

ګوره د خپل وجود بقا د پاره
قطره قطره درياب کې سا اخلي

زه لکه مات توټې له غير پريوتي منګى
زۀ ټول سالم لکه ژوندی د پښتنو روايت

څه ويل غواړي له جموده تښتي
عقل باغي شو له حدوده تښتي
هر يو ارمان مې د ژوندون له غيږې
لکه سايه د خپل وجوده تښتي

قيوم مروت
کواټ
۱۴ - ۹ - ۲۰۰۵

## فاتحه

ستا مقدس ذات دی لائق د ثنا
بغیر له تا بل څه بقا نه لري
هنر مې نشته د ستائلو ګنې
د ستا تخلیق کومه ښکلا نه لري
ستا د کمال او هنر نخښې ښکاري
ددې جهان په هر منظر کې ربه
شپه راخوره کړې د سکون په خاطر
رڼا دې ایښې ده په لمر کې ربه
زۀ خو بس خاوره وم او خاورې به یم
په دغه زمکه باچايي د ستا ده
زۀ یم عاصي په ما به رحم وکړې
ځکه چې عامه رحماني د ستا ده
چې پهدا رنګه زندګي کومه
خپله مرضي ستا په مرضي کومه

Pukhto.Net

## نعت شريف

پـــه مكـــان كـــې كـــه حامـــد دى لامكـــان كـــې محمـــدﷺ دى
رابطـــه پـــه ميـــنځ د زمكـــې او اســـمان كـــې محمـــدﷺ دى

ســـتا مثـــال هـــم نشـــته خدايـــه ســـتا پـــه واړه كائنـــات كـــې
بـــې مثالـــه هـــم خپـــل شـــان كـــې درســـت جهـــان كـــې محمـــدﷺ دى

چـــې ارمـــان يـــې دقـــدم كـــړي دجنـــت دكوڅـــو خـــاورې
مدينـــه بـــه خـــود نـــازيږي دې مكـــان كـــې محمـــدﷺ دى

چـــې دخـــداى ذكـــر كومـــه تصـــور ددۀ هـــم راشـــي
د اللهؒ دنـــوم پـــه خـــوا كـــې چـــې اذان كـــې محمـــدﷺ دى

زۀ او حـــق يـــې دســـتائلو ډيـــره ګرانـــه ده طـــايره
چـــې ســـتائلى خـــداى پـــه خپلـــه پـــه قـــران كـــې محمـــدﷺ دى

# ژوندی کردار

## ( نعت شريف )

زۀ چې د خپل فکر اسمان ته هر څو لاس واچوم
په خپل شعور چې زۀ هر څو زبردستي وکړمه
زۀ چې د خپل احساس په اور کې هر څو وسوزېږم
زۀ چې هر څو د خپل وجدان ترجماني وکړمه
بيا هم نيمګړې وي د هغې د جمال قصيده
بيا هم نيمګړې وي د هغې د جلال قصيده

Pukhto.Net
پښتو

زۀ د هغه د شخصيت کوم اړخ وستايم
د هغه هره کارنامه ده د ستائلو جوګه
هره خبره هر کردار يې آئينه ده د ژوند
هغه سړی دی په زړګي کې د ساتلو جوګه
د هر بې وسه سړي لاس کې وه امسا دلارې
د وخت په توره شپه کې وه سپينه رڼا دلارې

هر يو ازميښت ته يې سينه لکه د ډال نيولې

دخپل مقصد د منزلونو په تکل کې وو دا

ساتۀ یې زړۀ کې یو احساس د رڼا ګانو دڅوند
څه که دوخت دتورتمونو په مقتل کې وو دا

دخپل ضمیر په عدالت کې ملامته نه وو
سرې یې دوخت د فرعونیانو مخکې ښکته نه وو
کومو لفظونو کې ده غږ تصویرونه جوړکړم
چاچې دهر ظالم په مخکې احتجاج کړی دی
هغه سړی چې یې په خلقو کې ویشل خوبونه
چې دتمام انسانیت په زړۀ یې راج کړی دی
ځکه حیران یم خدایه نن یې قصیده لیکمه
دچاچې تا دی صفت کړې زۀ به څه لیکمه

Pukhto.Net پښتو

## ثلوريزه

ثه وأيل غواړي له جموده تښتي
عقل باغي شو له حدوده تښتي
هر يو ارمان مې د ژوندون له غيږې
لکه سايه له خپل وجوده تښتي

Pukhto.Net پښتو

# غزل

نه د ژوندون په خوږو پوئ شو اونه ښاد او اباد
په ورانو کرښو د تندي به شو څه ښاد او اباد

زمونږ په وچو وچو شوندو دې نظر ونه کړو
سپرليه. تا هم هغه ښاد خلق کړۀ ښاد اواباد

مانه حالاتو نورې تۀ ولې اسرې وتړولې
په خپله مينه مې جانانه کړه زړۀ ښاد اواباد

دا دومره فرق زما او ستا په مينځ کې څنګه راغی
زۀ دې بغارې وهم سوزم او تۀ ښاد او اباد

د تعبيرونو امکان نه و د ژوندون په لاره
طايره هر سړي خوبونه ليدۀ ښاد او اباد

Pukhto.Net پښتو

## غزل

ما کړه شپه تېره په ازغو کې خو تاکړمه خاورې
یه دلمر خیرې. اوس به چرته وجود وړمه خاورې

هغه د ستا په نوم ارمان هم په کې ورژېدۀ
اوس به د زړۀ کور کې په خاورو اړومه خاورې

بیګا مې بیا ستا دیاد دشتو کې مزل کړی دی
سحر سحر چې د ښو نه څڼو وهمه خاورې

دلته په ځان کې دهر چا نه خپل صورت ورک شوی
زۀ به له کوم یوې هنداري پاکومه خاورې

ما که خپل ژوند دوخت په سلو خزانو تېر کړو
تاله به نخښې د سپرلي ضرور راوړمه. خاورې

مانه مودې وشوې طایره چې یو لعل ورک شوی
په ما مودې وشوې چې اوس هم چاڼومه خاورې

Pukhto.Net
پښتو

## غزل

چې مې د ذهن په ورشو کې شور د باد ولاړ دی
بیا مې د خیال ورله کوم سوالګر د یاد ولاړ دی

ستا د نظر زلزلو هر څو مره که ولړځولوؤ
خو د امید ښار مې لا هغسې اباد ولاړ دی

د وخت سپېرو سېلو که هر طرف نه وتراشلو
پښتون چنار غوندې اوس هم په اعتماد ولاړ دی

زۀ به الفت کښې د انجام پسې نه ګرځېدی
خو راله مخې ته د عقل غټ نقاد ولاړ دی

دلته د هر چا لپه ډکه ده له سپینو اوښکو
دلته کې هر سړی له ځانه په فریاد ولاړ دی

میاندې دې متې دې بچو نه تړي ډاډ دې ورکړي
طایره بیا په هر درشل باندې جلاد ولاړ دی

## غزل

ولاړ په نزاکت چې دی اساس د آيينې
دا ځکه زخمي کېږي تل احساس د آيينې

ورکې چې خپل ښائست ته داد په لاس د آيينې
زياتيږي ځکه ورځ په ورځ وسواس د آيينې

په ځان کې ورته ښکاري ټول د خلقو نظرونه
اغوستی چې اشنا کله لباس د آيينې

چې ده زما د قد د هرې برخې ترجمانه
خالي نه دی شعور نه انعکاس د آيينې

ښائست ديو مړوند يې د پوره ملک ننداره ده
خلاف نه دي ديو بل نه اجناس د آيينې

ګيله د خپل تصوير د هېر بېدو مه ځه کړه طايره
د وربځو په مثال دي ټول خواس د آيينې

## غزل

زۀ په خپل ژوند کې يوه نوې تجربه کومه
د تيارو غېږ کې د رڼا په هيله شپه کومه

دوخت د هرې حادثې سره تنها. ملګرو
ډيره په نره او همت مقابله کومه

زما د برخې ليک زما د ژوند نقشه څنګه ده
يمه په زمکه د خپل ستوري تجزيه کومه

ددې حالاتو په دوزخ کې د سکون په اميد
زۀ دې ديااد د احساس ستوري تهدمه کومه

زۀ د دې ښار د زرپرستو مزاج ښۀ پېژنم
ولې به زۀ د نورو خلقو نه ګيله کومه

داسې محلت کې مې ګذران دی دژوندون په ډګر
د ورځې کار وکړم د شپې د ځان پهره کومه

د چا يادونو ويل طايره ستا د زړه په څلې
نن دژوندون د اميدو يوه تپه کومه

Pukhto.Net پښتو

## هایکو

د ژوندون ټولې دایرې ماتې کړې
کله د ځان نه چې بهر شي سړي
د ګل خوشبو موټې کې نه ګیرېږي

## هایکو

دا احتجاج دی که ضمیر وژل دي
هر سړي خوله باندې تړلې پټۍ
بدلون په شور راځي په چوپه خوله نه

Pukhto.Net پښتو

## غزل

دا چې تېرېږي راتېرېږي د منظر په لمن
بلا زخمونه وي جوړ شوي د نظر په لمن

ما همیشه د خپل ارمان مات کودي لیدلي
د دې سپېرو سپېرو حالاتو د ګودر په لمن

دلته کې ټولې سترګې ډکې دي له شکه ځینې
دلته کې ایښي دي هم داغ خلقو د لمر په لمن

چې په ما ښام کې د اسمان لمنې سرې شي کله
راته را یاد شي یو تصویر د خپل ځیګر په لمن

په خپل تصویر کې یې قیصه د هست او نیست لیدله
نن چې په سوچ کې وو طایر د سمندر په لمن

## غزل

په خپل وجود کې دروغ هم د رښتیا زیري راوړي
تیارې چې راشي ځان سره د رڼا زیري راوړي

که وایم نه لرم څوک زه د تنهائۍ نه سوا
بیا د نسیم خوږې وږمې نو د چا زیري راوړي

لکه بکیانه چې په خپل وجود هم سوری نه کړم
جدا ښاخونه مې د ذات د فنا زیري راوړي

راشئ معلوم مې کړئ زه څه شی یم او څنګه یمه
هره ادا د فطرت مونږ لره دا زیري راوړي

مونږ د غزل جامه کې نغښتي دي حالات د ژوندون
ځکه په دې دور کې هم د بقا زیري راوړي

دا ماښامونه ستا د ژوند په انګو کې چې دي
طایره تاته به همدا د سبا زیرې راوړي

## غزل

که مو وجود په کې ختمیږي که له کاره اوځو
تاله رڼا به راولو د دې لپاره اوځو

لکه خوشبو د ګل یو حد پورې محدوده نه یو
د هوا غیږ کې دژوندون په هره لاره اوځو

دوځت ستم او د حالاتو بې ُرخۍ له وجې
د خپل ارمان په څلې پښې ګډولو دې ښاره اوځو

Pukhto.Net

عقل له رو شعور له رو خو په څه نه پوهیږو
مونږه هر غږ د زنده باد سره سرشاره اوځو

لکه یو روح چې له وجوده خامخا بېلیږي
داسې د ذات له دایرې نه بې اختیاره اوځو

ستوري خو نه یو چې پابند شو د یوې دایرې
مجرمان ولې شو چې مونږه له مداره اوځو

# غزل

هم تنهايي ده او هم يم په اضطراب کې راګير
وخته !زۀ کړمه دې لا دا په کوم عذاب کې راګير

څو به مرکېږم ژوندي کېږم د وفا په لاره
څو به د ژوند د دشته کې يمه په سراب کې راګير

نه څوک ازغي وينې. او نه څوک د خزان فکر کړي
بس هر سړی دی دلته سحر د ګلاب کې راګير

ستا د ښائست په ورشوګانو کې مې خيال دا سې دی
لکه چې سازوي په تارونو د رباب کې راګير

خلق شمکوره شو چې نه وينې حالت زمونږه ؟
که نه. زخمونه د وجود مو دي حجاب کې راګير

څو ورځې بند به کړو طايره دا کتاب د الفت
شو د حالاتو د ګرداب نوي ګرداب کې راګير

## غزل

چې ورته ورکړې یو نظر کې مکمله ټکور
پرهر پرهر زړونه به شي جانانه هله ټکور

د محبت سند د ژوند په ډګر دا وګڼه
په روڼ تندي چې خپل باګرام درکړو کابله ټکور

دلته کې څوک دي چې زما او ستا له غمه به مري
راځه چې خپل زخمونه یاره کړو په خپله ټکور

چې د هجران د تصور غم دې راپنډ شي په زړهٔ
اخله د زړهٔ درد له زما له یو غزله ټکور

چې ستا د پاره یې د ستا په ازغو ځان کړو زخمي
اوس خو پکار دی کړې سینه د شبنم ګله ټکور

Pukhto.Net

## د تعبيرونو لټون

### نظم

له دې نه مخکې څو څو ځل ملګرو
ما وو يو خوب ليدلې
خو هغه خوب د لا شعور د جزيرونه لرې
د حقيقت د سرحداتو فاصلو نه جدا
د تصور خيالي جهان کې پروت وو
د ښائستونو په ارمان کې پروت وو
د اميدونو لامکان کې پروت وو
هم د وهمونو په زندان کې پروت وو
هم په زمين هم په اسمان کې پروت وو
نه واقعيت نه په امکان کې پروت وو
خو ولې زۀ يې د تعبير په لټون
دزميني مدار نه

اوتلم
او د سپوږمۍ په مدارو کې مې سفر شروع کړو
د ژوندونو دايرو کې مې سفر شروع کړو
ما چې وو څه ليدلي
د لا شعور د جزيرونه لرې

هغه فرضي جهان کې
تشه دهوکه وه تش فريب وو زندګي خو نه وه
هلته سرې شګې وې کمرې وې نمي خو نه وه
توره تياره به شوه ماښام به شو سحر به راتلو
نور د ژوندون علامتونه په نظر نه راتلو
آښا پېرۍ چې زما روح ته به يې ساز غږوو
کله ناکله لاشعور ته يې اواز راکوو
مايې په خيال کې په خيالي رنګونو
هم په خزان هم په سپرلي رنګونو
د خپل نظر په جلالي رنګونو
هم د تضاد په جمالي رنګونو
لکه کړۍ کړۍ زنځير جوړ کړی
وه کرښو کرښو نه تصوير جوړ کړی
ما به ليکلی پرې غزلې او سندرې مدام
دليونو په شان کولې مې خبرې مدام
ځکه چې زۀ په دې خبره باندې نه پوهيدم
د تصور په سلطنت کې هغه خيال او فريب
نه يې وجود نه. حقيقت لرلو

هغه دهوکه وه دناداني جذبو
هغه چې زۀ يې په لټون کې ومه
هلته باغونه ابشارونه
شنې درې او چنارونه نه وو

هم د مارغانو اوازونه. نه وو
د ښائستونو منظرونه. نه وو
د ژوندانه علامتونه. نه وو
ما چې ليدلی وو کوم
دهغه خوب هيڅ تعبيرونه. نه وو
په خپل کړاو پسې ښهٔ وژړېدم
داضطراب په اور کې وسوزيدم
زهٔ ډير مايوسه شومه
او نا اميده شومه
خو په قراره نه شوم
ځکه چهٔ يو ځلې مې بيا ملګرو
پرون غرمه يو داسې خوب لېدلی
بيا مې دنوې کائنات سره ليدنه وشوه
ما په مريخ کې شنه پټې وليدل

ښې دنګې دنګې ونې
هم مې سپرلې وليدل
بس دلونګو ونې
هم ګودرونه به وو

ښکلې رنګينه فضا
او سرهٔ ګلونه به وو
هلته د امن سندريز ماحول کې

## خوشبونه وینې د رنګونو څاڅي

د ژواندانه تقاضو
مست اتڼونه کول
څکه چې هلته د مریخ فضا خو
وه د لوګو نه خالي
هم د بارودو د لمبونه خالي
ما د شعور په ګوتو
د حافظې په تخته
نوی تصویر جوړ کړلو
نوې خاکه جوړه کړه
خپلو جذبو کې مې یو نوی شانې
بیا حرکت محسوس کړو

خو هغه تېرې تجربې چې ګورم
د شک د رشل باندې مې پښې شلې شي
څکه چې د غه لتهون
د تعبیرونو لتهون
منزل لری او که نه

## غزل

بيا وربل وربل دی په قدم قدم
فکر مې شل شل دی په قدم قدم

لا دې د مخ وړانګې شپو کې مه نغاړه
لا ځنګل ځنګل دی په قدم قدم

بيا هم ستا کوڅې له دره د رحمه زه
جوړ مقتل مقتل دی په قدم قدم

زه چې بدل شوی يم نو ما سره
وخت بدل بدل دی په قدم قدم

ستا د نظر غيره کې غزاله بس
روح غزل غزل دی په قدم قدم

وايو به د ژوند نغمې طايره که
بيا اجل اجل دی په قدم قدم

## غزل

خیر دي ملګرو که کړې دي او وړ دې لارې دي
مونږ به منزل ته پرې رسیږو ډیرې ښې لارې دي

وجود مې یو دی نه پوهیږم چې په کومه لاړشم
جدا جدا زما د فکر او جذبې لارې دي

هغه سړي ته چا اوس هم نوم د یزید ورنه کړو
د چا د لاسه چې پټه وینو باندې سرې لارې دي

د بخت خاوند به وي چې خپل منزل ته رسي اشنا
دژوندانه ګینې والله ډیرې کړې لارې دي

په تصور کې مې خیال هم په کې په کاڼو لړې
د زړۀ د کلي دې اشنا څومره سپېرې لارې دي

زما رڼا وجود به تر هغې قتلیږي
چې دې کوڅو باندې تر څو پورې د شپې لارې دي

Pukhto.Net پښتو

# غزل

پوهېږم چې ضرور به د اسمان له حده اوځم
که زۀ چرې ملګرو د خپل ځان له حده اوځم

يو ځای ته خو به ځمه که مکان که لامکان وي
خو دا نه شي کېدای چې د زمان له حده اوځم

کاروان به راته تېر وي د سپرلي د موسمونو
ترڅو چې د خزان د ريګستان له حده اوځم

دې چم د مصلحت کې مې مودې مودې کړې تېرې
نور ځم د خاموشيو د زندان له حده اوځم

شي ژوند به مې د ستورو د تيارو تر بادشاهته
سکون ته که د لمر او کهکشان له حده اوځم

## غزل

چې لفظونه له اظهاره دي وتلي
کردارونه له کرداره دي وتلي

له مودو مودونه ورک دي هغه خلق
چې د خپل واک او اختیاره دي وتلي

د زهرا په وجود خپل اقتدار غواړي
ټول خواص مې له مداره دي وتلي

د (حمزه) خبره ایغ او نیغ بانه دې
پښتانه دي خو له کاره دي وتلي

بس یوه دا ستا نامه ده په کې پاتې
نور هر څه د زړه له ښاره دي وتلي

نیمه شپه کور ته راغلي مزدوران دي
او بیا مخکې له سهاره دي وتلي

Pukhto.Net پښتو

## خوشبونه وینې د رنګونو څاڅي

د نارنج د ګل ورېمې په کې زخمي شوې
خوشبویانې له ننګرهاره دي وتلې

## هایکو

نه ده بې قدري پکار
ونه که زړه هم شي
سورې یې فائده لري

Pukhto.Net
پښتو

## هایېکو

نه دی اعتبار پکار
مړې اوبه که پښې غوځئ
تیزې اوبه سر وهي

# غزل

لکه ملهم په هر پرهر کې اواوسو
ځکه دهر چا په ځیګر کې اواوسو

د شپې تیارې مو رانیولې نه شي
د سبا ستورې یو سحر کې اواوسو

داسې ده کومه ګناه شوې له مونږ
دا چې دهر چا په نظر کې اواوسو

د ستا زخمي څهره مو هېره نه ده
کابله خوښ که پېښور کې اواوسو

مدام چې کار کړي ارتقا د پاره
مونږ په هغه سرلښکر کې اواوسو

چې ترې بهر شي ژوندي پاتې نه شي
ځکه خو مونږ د وخت محور کې اواوسو

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

نن چې بدله وه سحر نه دهوا اراده
ځکه ډيوو هم ورته وکړه د انا اراده

په يو لټون کې په يوه نکته جدا ثنګه شو
ثه وه زما د زړګي سره ثه وه ستا اراده

د تصور د پروازو سره به والوتمه
په هر پړاو چې به مې وکړه دبقا اراده

دلته د امن لباسونه شر پسند اغوندي
دلته عبث ده دارمان دمسيحا اراده

زما په زړۀ کې توره شپه شوه د زخمونو وير شو
دستا دياد سپوږمۍ چې وکړه د رڼا اراده

ځکه خو خاورې شو خزان وربانديې لوبې وکړې
طايره دې وطن ته ښۀ وه نود چا اراده

Pukhto.Net

## غزل

چې په رنګونو جانان اولمبېدهٔ
خو د په فکرونو وجدان اولمبېدهٔ

خالقه ستا په دغه پاکه زمکه
په خپلو وينو اسمان اولمبېدهٔ

په مونږه څاڅکي قدرې هم وهٔ نه شو
په دوعاګانو اسمان اولمبېدهٔ

د هجر سختو سختو شپو کې اشنا
په سرو اورونو ارمان اولمبېدهٔ

وچ به له تندې وی د للمې ګل خو
ستا دوصال په باران اولمبېده

پښتني ستا دلونګين په خوشبو
هغهٔ طاير غزلخوان اولمبېده

Pukhto.Net

## غزل

يمه جدا خو ځان جدا حسابولی نه شم
چې ستا د ياد له سرحدونو نه وتلی نه شم

مانه د وخت د تقاضو په نوم ضمير اخلي
دې بې منزله قافلې سره نور تللی نه شم

ته مې د ذهن په پرده باندې راخور شوې داسې
يوې لحظې ته دې له زړه ځينې ويستلی نه شم

دغه زما تضاديت دی که د وخت غوښتنه
چې د موسم په څېر بدليږم و دريدلی نه شم

وازې د وخت د رواجونو بلاګانې خولې ) دي
د کال لمرې سحر د ستا په نوم لمانځلی نه شم

Pukhto.Net

# غزل

هنداري ماتې شولې دي عکسونه وينې وينې
ښکاري د هر کس په ضمير لاسونه وينې وينې

د مايوسۍ لړې خورې دي خدايه څه به کيږي
زمکه ده وينې د فضا بادونه وينې وينې

په سکندره راشه اوروره په خپلو سترګو
شول ستا د قاف د ښاپيرو مخونه وينې وينې

دلته بدلون د موسمونو نوي رنګ رانه وړو
دلته په خپلو ازغو شول ګلونه وينې وينې

هلته طايره د سپين غر په هسکه څوکه باندې
نښتر زخمي دي ځکه ځي رودونه وينې وينې

Pukhto.Net

# غزل

ستا د نظر د وسعتونو حد له ورشېدم
ايله خو اوس د منزلونو حد له ورسېدم

زما ګمان خو داسې نه وو بې وفا لا ليه
ستا دوعدو د سرابونو حد له ورسيدم

دخپله ځانه لاندې ځای يې ټول تياره وو
چې د ډيو د برجلونو حد له ورسيدم

لکه رڼا د کائنات په وسعتونو خور شوم
لکه دلمر د تورتمونو حد له ورسيدم

د خپل اواز نه په کې هم د سرې وېره اوشي
د ژوند د داسې ځنګلونو حد له ورسيدم

په هر قدم مې خوشبويې د احساس والوتله
دخپل ارمان د مقتلونو حد له ورسيدم

Pukhto.Net پښتو

# د امید څراغ

## نظم

زۀ د ژوندون د لارې داسې لاروی یمه اوس
چې هره لاره او کوڅه راته پردې، پردې ده
په هر ګوډ پیر کې زه د ځان په تماشه راځمه
په هر قدم د خپل احساس د قتل چغې اورم
زۀ اوس مزل کوم د ژوند په داسې لارو باندې
چې د ازغو او مارکونډونه بل څه نشته پکې
په داسې لاره چې مزل پکې کم نه دی له مرګ
هر څهره نا پېژندلې هر نظر اجنبي
پولې پولې پښې یم د خلقو په هجوم کې روان

Pukhto.Net

خپل پرهرونه مې سینه باندې تازه ساتلي
د احتجاج د غرۀ په سر مې ده خېمه وهلې
هم مې جامې دي تکې سرې د بغاوت اغوستې
تنهاکي پښې یمه روان دې اجنبي خلقو کې
خو د امید دا یو څراغ مې دی ساتلی زړۀ کې
خیر دی که نن د دې بازار خلق ما نه پیژني
زما د فکر او نظر تقلید ته نه دي تیار
خو سبا ورځ چې د وهمونو له دې جاله خلاص شي
او د بادارو له دې اوږد استحصاله خلاص شي
دوئ به ما او پېژني څوک یمه زۀ څه غواړمه

دوئ به زما د مفکورې تاييد کې لاس اوچت کړي
بيا به په ګډه يو تحريک بوځو په مخه باندې...
د دې جونګړو د مظلمو حمايت به کوو
د دې خوارانو غريبانو حق کې غږ به کوو
د يزيد لاس نه به خنجر د مرګي هم اخلو
او د حسين په پرهرونو به مرهم لګوو
بيا به کوفه کې کربلا دوباره نه جوړيږي
بيا به سرې وينې په کوڅو کې داسې نه بهيږي
بيا به د چيچنيا زلمو ته باغيان نه وايي څوک
او د کشمير په ښائستونو به اور نه لګيږي
بيا به زما ښکلی کابل د ښاپيرو مملکت...
بيا به زما د قندهار د عظمتونو شمله

بيا به زما د ننګرهار د سپين غر هسکې څوکې
په سرو لمبو کې د باردو داسې نه سوزيږي
او د هلمند مازديګري به داسې نه غميږي
بيا به مورګانې پېغلې خويندې داسې نه خواريږي
بيا به نغمې د ژوندانه دلته په زوره زوره
د ادم خان په هغه زوړ رباب کې وۀ غږيږي
د ګودرونو مازيګر به خدای اباد ودان کړي
د بام په سر به سرې لمبې د لوپټو شي جيږي

د غرۀ لمن به د کوچيانو په کيدګو شي ښائسته<br>
او غلغلې به د سندرو او ټپو شي جيړې<br>
کنډر کنډر کورونه نه به وي بيا داسې ويجاړ<br>
چوپه چوپتيا د اوږدو شپو به سپين سحر کړي ماته<br>
بيرغ دامن به په هر طرف کې ورپيږي<br>
په دې اميد په پولۍ خپو ګرځم د خلقو مينځ کې<br>
چې ددې خلقو د ذهنونو دا صفا هنداري<br>
مدام به نوي د حالاتو په ګردونو خړې<br>
دوئ به زما په څير جامې د بغاوت واغوندي<br>
د ژوند رنګونه به په خپله باندې اوپيژني<br>
په دې اميد په دې ارمان په سرو سکروټو باندې<br>
يمه روان په نابلده اجنبي کوڅو کې

Pukhto.Net
پښتو

## غزل

هم يې د نن دور ادا هم يې زړه پېژنم
اشنا که هر څومره بدل شي خو هغه پېژنم

ماله به څومره راکوي ماله به څه راکوي
ښه پرې پوهېږم د خپل دور پېمانه پېژنم

په دې کوڅو کې مې دژوند يوه موده تېره ده
ځکه د شپې هم په کې خپله دروازه پېژنم

خپل خط وخال هم راته ياد دی سوادګرو د ښار
او هم د استاسو په لاسو کې آينه پېژنم

زۀ د دې دور د کوفې په کربلا کې اوسم
زۀ د دې دور د يزيدو استانه پېژنم

## غزل

ځئ چې ورځه کې نیمګړی سفر تام شي
ګینې ورک به شو که دا ځلې مابنام شي

تقدس د ظرفیت په کې لیلام شي
چې دې ښار کې څوک غریب شي نو بدنام شي

مصلحت چې زرداران و سره نه کړي
سرې عام به خود زما فکر اعدام شي

چې دوخت د پریشانۍ په جال کې ګیر شم
احساسات مې د خوشبو په څېرې عام شي

څه تپول عمر خو به ځان سره شر نه کړو
داحالات خو یوه ورځ به راته رام شي

د چا أوچې چا ودې شونډې راپه زړه شي
چې مې کله دې سپږو د شتو ته پام شي

ستا په زلفو کې چې بوئ وي د بارودو
تغزل به مې خاصه څه د کلام شي

Pukhto.Net پښتو

# غزل

چا چې رنګ په رنګ حلال کړل هم هغه يې د سر تاج دی
آخر کله به پوهيږي دغه څرنګه سماج دی ؟

هر سحر توره شپه وژني مابښام خپل وجود تک سور وړي
دا څه لوبې نښلولي. دلمر هم عجب مزاج دی

د جمود ور به ماتيږي دا پخه مو عقيده ده
شروع شوی دی کوڅو کې د فکرونو احتجاج دی

چې د ګل خوشبويي وژني او رڼا ته لارې نيسي
دلته داسې خلق اوسي او دا داسې خلقو راج دی

زۀ د کلي په خوئ پائم دادښار په رنګ کې رنګ ده
څه به کيږي نه پوهيږم د تضادو امتزاج دی

د سپين غر په غزلزار کې د جدت چې انګازې دي
دا اواز ستا دی طايره دلته ستا د غزل راج دی

Pukhto.Net پښتو

## غزل

سپوره خبره له مودو پس یې بیان کې نه وه
دا یوه نښه د سپرلي ګنې خزان کې نه وه ؟

په هغې شپه به بیا سپوږمۍ په دغه بام راخته
په کومه شپه به چې سپوږمۍ پاس په اسمان کې نه وه

یو خپسه ددې خلقو په مرۍ غلې شوه
ګینې نو دومره خاموشي په دې مکان کې نه وه

چې په خندا یې ټکور کړی د بورا وی زړګی
یوه غوټۍ هم په دا دومره ګلستان کې نه وه

کومه شپه وه چې به مونږ په کربلا کې نه وو
کومه لحظه وه چې زمونږ په امتحان کې نه وه ؟

ما به سر کړئ وائ د ډیرو پړاونو سفر
خو حوصله د تګ طایره په کاروان کې نه وه

# خوشبونه وينې د رنګونو څاڅي

## غزل

ما چې خپل فكر د ژوندون كوثر كې ولمبوو
ځكه فطرت راله مزاج هنر كې ولمبوو

په تورو شپو كې اوس سَحَا د خپل فطرت راښايي
سپوږمۍ چې خپل وجود رڼا د لمر كې ولمبوو

چې د شفق سروخي يې سترګو كښې موجونه وهي
نظر قاتل اشنا بيا كوم منظر كې ) ولمبوو

شپې له په خپل جبر بس دومره پښېماني كافي وه
په خپلو اوښكو يې چې ګل سحر كې ولمبوو

د چا د ژوند د ارزوګانو د تكميل په خاطر
د خپل ارمان لاش مې د زړۀ كندر كې ولمبوو

Pukhto.Net
پښتو

## غزل

ځای په ځای نظر ولاړ
دا په کوم ډګر ولاړ

زۀ د سراب شپه کې ورک
لمر په سمندر ولاړ

بیا دوخت طوفان کې نن
هر سړی اوتر ولاړ

کړي د تاج محل پهره
خپله نه نارنهر ولاړ

اوڅکي د بورا وینې
ګل تازه سحر ولاړ

داسې جمود خور دیچې
مرګ په هر منظر ولاړ

ستا په طمعه دی طایر
ځان. نه ناخبر ولاړ

## غزل

داسې څوک نیشته چې درزا مې د زړګي اونیسي
د وخت سیلاب کې رانه تلونکې زندګي اونیسي

دا عجیبه نه ده چې وشي په ازغو کې ګلان
عجیبه داده چې ګلان څنګه ازغي اونیسي

دلته انسان ربه د ځان د حفاظت په خاطر
لاره د بل انسان په نیت د تباهي اونیسي

د پلار ښوونه راته ډاډ د مزلونو راکړي
د مور دعا راته تیاره کې رڼایې اونیسي

خپلو څهرونه په کې ډارشي دا د زر خاوندان
اکثر چې مخ ته دابو ډک کنډولي اونیسي

## غزل

چې د احساس په اور وريتهٔ وو خلق
بيا نو خوشحاله به په څه وو خلق

بېګا مې خوب کې داسې خوب ليدلی
زهٔ و مه ويښ او نور ويدهٔ وو خلق

زما په حال به هغو څه خبرېدل
چې په سايو خپلو پراتهٔ وو خلق

نن د ارمان منصور مې دار ته ختو
خو تماشې ته جمع نهٔ وو خلق

هلته هر څوک د ذات حصار کې ګير وو
دلته په خپلو وينو سرهٔ وو خلق

Pukhto.Net

## غزل

نه يې بدل شولو د تلو نه د راتلو روايت
اوس هم هغسې دی اشنا د ورځو شپو روايت

د تندې ذوق مې سرابونو باندې مۀ ماتوه
ما ته معلوم دی بې وفا ستا دوعدو روايت

زۀ لکه مات ټوټې ټوټې له غبرګو پربوتې منګی
زۀ ټول سالم لکه ژوندی د پښتنو روايت

څوک چې پالنه کړي د نورو تهذيبونو مدام
يو وخت به خامخا ورکيږي د هغو روايت

چې لاس دې راکړو اوس په نيمه لار تنها مې پريږدي
دا خو نه مينه شوه اشنا نه د پښتو روايت

په هر نظر د حسرتو مړاوي غوټۍ کړه تازه
ژوندی ستا ته ښکليه هغه د سپرلو روايت

## غزل

ازغو باندې مزل کوي بيا هم نه ستړي کيږي
سپيڅلې قافلې دي خپل منزل ته به رسيږي

سحر شي او ماښام شي کله ورځ شي کله شپه شي
فطرت د زمانې دی چې په هررنګ څرګنديږي

تياره نه يې نفرت دی او که دا يې کم ظرفي ده
چې ورځ شي نو يو سپوږی له وجوده مې بېليږي

احساس په کې لوګی شو او ارمان په کې لمبه شو
هيڅ مه ځه کوه پوښتنه خو وختونه دی تېريږي

دا څوک وو چې له مانه يې حواس يوړل ملګرو
دا څوک دی چې د ذهن په کوڅو کې مې ګرځيږي

د غږ د سوز او ساز نه يې سندرې جوړومه
طايره ښاپېرۍ د تخيل راته ګډيږي

Pukhto.Net

# ماته څه کول په کار دي ؟

(نظم)

چې خاموشي د تورې شپې شي راخوره په زمکه
او په تاخونو کې روښانه څراغونه مړهٔ شي
زهٔ چې سر کېږدم په څنګل او سترګې پټې کړمه
نو د غوږونو په پرده کې مې يو زوږ شروع شي
له مانه چار چاپېره لويه هنګامه جوړه شي
زهٔ په غوږونو باندې تېزې تېزې چغې واورم
له درد او سوزنه داسې ډکې سوې سوې کړيکې
لکه سرې چې په اورونو باندې ژوند تېروي
داسې سرې سرې سلګۍ شي انګازه انګازه
لکه چې څوک د چا د لاسه په ماتم شي اخته
داسې نرۍ نرۍ زګېروی د لرې لرې راځي
لکه زخمي عسکر سنګر کې فريادونه کوي
په ما خولې راشي داهر څه په بيا بيا واورمه
چې سترګې وغړوم هغه شان لا توره شپه وي
او تر او تر په منډه منډه شم بهر له خونې
يوه چوپتيا وي راخوره په دې همه کلي کې
داسې محسوس کړم لکه زهٔ يمه صحرا کې ولاړ
چې مې ناڅاپه حافظه کې يو څراغ شي روښان
لکه الهام مې هغه سختې لمحې خيال ته راشي
چې يوه شپه په دغه کلي باندې برناحقه
د سرو اورنو بارودونو بارانونه وشول

چې په کې ډېر تنکي وا ړهٔ وا ړهٔ ماشومان
لکه غوټۍ د ګل کېدونه مخکې وریژېدل
چې په کې ډېرې پېغلې نجونې او زلمي هلکان
لکه نینې د اور په بټ کې داسې وتړقېدل
داسې محسوس کړم لکه زهٔ په هدیره کې یمه
ددې ویجاړ ویجاړ قبرونونه راپاڅي ارواح
لکه زمانه چې د ځان د پاره غواړي وجود
د خپلو وینو د قطرو د انتقام د پاره

## غزل

د ژړې شپه وه خطر ډیر وو څراغونه نه وو
مونږ بدنصیبو سره خپل خپل نصیبونه نه وو

د دې بازار میلو څه بل شانې دستور درلودهٔ
ښهٔ ارزانې وه د سرونو قیمتونه نه وو

ځان په ژړا مړ کړو په هغه ستړي قبر پېغلې
شونډې یې وینې وې په زنه یې خالونه نه وو

دلته دې حشر کې بس هر سړی له ځانه ورک وو
دلته د چا سره هم چا لره وختونه نه وو

مونږ د کوډګرو د منتر په دایره کې ګېر وو
مونږ سره بېرته د وتلو هنرونه نه وو

خدائزده چې کوم بادې سمبور دلته راوړې کړه
داسې خاموشه خو زمونږه ګودرونه نه وو

دا خو دستا برکتونه دي باګرامه زار شم
ګینې اول کې مې خوارهٔ داسې شعرونه نه وو

( درې مصريز نظم )

ما د سپرلي د تصور د ياد ساتلو په نيت
دوکه ورکړې خپل نظرته هميشه جانانه
ما به ګلدان کې کيښودل تل کاغذي ګلونه

Pukhto.Net

هائکو

ماته د وخت د مزاج پته نه وه
ما به په سترګو کې سپرلي ګرځول
خپلې ځوانۍ راته اورونه بل کړل

# خوشبونه وينې د رنګونو څاڅي

## غزل

دعشق د پولې نه وراخوا احتياج ښکارېدو
ژوند تر هغې وو محبته چې ستا تاج ښکاريدو

ما به هغه د سترګو تور کړل په ليمو به مې کړل
ماته چې څه کښې هم د زړۀ د رنځ علاج ښکارېدو

دې ښار کې ژوند. وې سرې جامې د بغاوت اغوستې
دلته د هر چا رويّه کې احتجاج ښکارېدو

زۀ سوزېدم. لمبه کېدم خو ما اظهار نه کاوۀ
ما ته اې ګله ستا مزاج. د ګل مزاج ښکاريدو

توان د الوت که چيرې ما نه درلودو دبره
ماته سجده د يار په پښو کې هم معراج ښکارېدو

هغه زما د محبت ګرانې قاتلې کوڅې
طايره هغه وطن هاغسې تاراج ښکارېدو

## غزل

په خپلو اوږو باريو په سپېرۀ سپېرۀ ماحول کې
د چانه ثوک خبرېږي دې ويدۀ ويدۀ ماحول کې

هنر زده کول غواړي د رڼا طلب د پاره
تر ثو به مونږ وسېږو په تياره تياره ماحول کې

دا ثيرې ګريوانونه دا سلګۍ دا ژړاګانې
بس هيڅ هم خلق نه وينې ړاندۀ ړاندۀ ماحول کې

احساس د محبت مې د زړګي په درشل رو رو
ورږمه ورږمه خوريږي دې تراخۀ تراخۀ ماحول کې

د ژوند نوی لباس يې د ذهنو په بدنونو
بلها خوند کړي طايره په زاړۀ زاړۀ ماحول کې

## غزل

ځوانه مې ارزو شوله. پخې مې ارادې شولې
هر څو که طايره د منزل لارې اوږدې شولې

بيا کوم ليوني نن دخپل حق غوښتنه کړېده
بيا چې د حالاتو له غضبه سترګې سرې شولې

دومره مو په زړونو کې اوږدې فاصلې راغللې
څومره چې مو يو تر بله ختمې فاصلې شولې

دواړه دوخت زَد کې خپل انجام ته رسيدلي يو
زۀ په ورځې ګرُم شومه او تۀ دې ګرُم په شپې شولې

چرته چې محتاج د شناخت وو شخصيت زما
هلته آيينې ګوره لاسونو کې ړندې شولې

لا خو په چمن کې د سپرلي دموسم نښې دي
ولې د بلبل د خولې بدلې ترانې شولې

## خوشبونه وينې د رنګونو څاڅي

### غزل

دي يو عذاب کې مبتلا له زمانو راهيسې
دا خلق سر دي په ژړا له زمانو راهيسې

يو ګلاب قتل شو دې ښار کې يو ځل برناحقه
بيا چا ونه ليده ښکلا له زمانو راهيسې

شائد يو څوک راوړي دژوند د امکان نوى زيرى
څارمه لار اسمانه ستا له زمانو راهيسې

مونږ خپلې وينې ورکړې بلو څراغو ته دشپې
بيا هم قحطي ده د رڼا له زمانو راهيسې

دا لمر سپوږمۍ دواړه ملګري ديوۀ مقصد دي
مزل کوي جلا جلا له زمانو راهيسې

په وير لړلې ده طايره لکه زهر تراخه
دګل په شونډو کې مسکا له زمانو راهيسې

Pukhto.Net پښتو

## غزل

چرته په پرېږدي مو د ژوندون مشاهدې ته حالات
لا سازګار نه دي ستا په حسن قصيدې ته حالات

څومره په ښکته چې غورزېږو دومره بره خېژو
ورکوي نوی نوی رنګ مو تجربې ته حالات

لا يې ارمان د ګل کيدلو وي چې ورژيږي
نهګوري دومره دعمرو نو تقاضې ته حالات

زمونږ اختيار له مونږه اخلي اوس خو ننګ پکار دی
ترڅو به چوپ يو راغله دغې اندازې ته حالات

ماله هم نه وايې چې بد يې ستا هم کړې ستا ينه
څه دوه رنګي ښايې دې سپينې آيينې ته حالات

Pukhto.Net
پښتو

## څلوريزه

ربه صفا کړې بس دی نوره د ازغو نه زمکه
دلته وتلي په رڼا ورځ ګرځېدو نه زمکه
چې ور په زړۀ شو خپل مزدور جانان په سره غرمه کې
د چنار سوري ته يې وتښتېده پښو نه زمکه

# رات کې رانې

## (نظم)

لمر چې د غرۀ له دنګې څوکې نه پناه شي کله
سکښې ماښام شي لړې ډېرې تيارکۍ خورې شي
د شپې په توره هېبتناکې بوګنونکي څهرې
سپينه رڼا او پلوشې چې د سپوږمۍ خورې شي
نو تۀ لباس د خوشبو واغوندې په سيل لاړه شې

خلق اوده شي او څادر د خاموشۍ واغوندي
تۀ سېلانۍ شې او دستا په طرف ستوري ګوري
تۀ چې په ناز کله سوره شې د هوا په اوږو
ستوري له ځانه ورک شي ستا په لوري ګوري
نو تۀ لباس د خوشبو واغوندې په سيل لاړه شې

ستا د پرکېفه وجود بوئ په هرې لورې خورشي
خو دا ويده خلق د ستا په ښکالو پوهه نه شي
دا چې د ځان په غم کې ستړي وي دا ستړي خلق
تۀ په دوئ راشې خو دوئ ستا په راتلو پوهه نه شي
نو تۀ لباس د خوشبو واغوندې په سيل لاړه شې

Pukhto.Net

چرته په وچه تږه ناسته يو لېونی شاعر وي
ويښ وي. په غم د ويدو خلقو سوکالۍ د پاره
ستا د خوشبونه ځولۍ ډکه کړې محفوظه دې کړې
سحر دې ويشې په دې خلقو خوشحالۍ د پاره

Pukhto.Net پښتو

# سپوږمۍ سره خواله

**( نظم )**

هغه چې تېره شپه سيلۍ لړېده تېزه تېزه
واورين موسم وو په فضا کې خاموشي خوره وه
هغه اسمان کې چې دوريځو خيمې هم ښکارېدې
هغه تيارې چې يې احساس د سړي هم بوګنوو
په دې تيارو کې راته ستا خړه جوته ښکاره شوه
شومه حېرانه ستا څهره څه عجيبه ښکاره شوه
تا له به هم د تنهائۍ احساس کيدلو سپوږمۍ
تا به هم غم کې کله کله د چا سترګې سرې کړې
ستا په زړګي هم د يادونو لمبې نه مړې کېدې
ته دا سمان په دغه ارته سينه ښکلې سپوږمۍ
په دې پوهه نه شوم ته زما په شان تنها ولې وې
په منده منده ساه نيولې وارخطا ولې وې

## غزل

حالات له ما د څه سزا اخلي
چې مې د شونډو نه مسکا اخلي

ګوره د خپل وجود بقا د پاره
قطره قطره درياب کې سا اخلي

هسې نه مونږ تېرې روستو پاتې نه شو
وخت چې قدم د ارتقا اخلي

په خپل ازمېښت باندې يقين نه لري
وخت امتحان چې مې بيا بيا اخلي

دلته د ټولو زړونه ورپېږي
دلته چې نوم څوک د رڼا اخلي

طايره ما سره نصيب به کله
قدم په لاره د وفا اخلي

Pukhto.Net

## غزل

که هر څو تياره تياره ده خوره شوې توره شپه ده
خو بيا هم د زړۀ په تاخ کې مې روښانه يوه ډيوه ده

ما چې کوم منزل غوښتلو زۀ په کومه لار چې تلمه
آ. منزل په فاصله دی هغه لار ډيره اوږده ده

د ارزو له عذابونو تولـه شپه يم راتېر شوی
لړمې پريږده کنه غمه که مې لا کړې دمه ده

برجلونه د تهذيب رالته وۀ نه غورځوي خدايه
د ذهنونو ښاريه کې څه عجبه زلزله ده

چې تريختيا مې په لهجه کې د غزل ده سوا شوې
ای. ساقي د الهامونو ستا پياله ولې تراخه ده

د فطرت په رنګينو کې نااشنا نه يم طايره
شپه د يار د زلفو سوری ورځ يې مخ غوندې ښائسته ده

## غزل

د رواياتو د محل اشتهار
زما تخليق د چاپېر چل اشتهار

چې دا نړۍ به وي زانګو دامن
جانانه دا وو د ازل اشتهار

زما نامه ترلې تا پورې ده
تانه بغير نه لرم خپل اشتهار

بې اجازته ته تلل منعه دي
ليک وو د ښار په هر درشل اشتهار

مونږه دفن په ارزښت ښۀ پوهيږو
ګڼو ښکلا چې د غزل اشتهار

زما تندی خو ديوال نه دی د ښار
چې نن پرې يو وي سبا بل اشتهار

طاير په دې سپلۍ سپلۍ فضا کې
سالم ساتلی د خپل پل اشتهار

## غزل

د ژوند سپېره دشته کې واړه مزل
په یو نظر به کوو دواړه مزل

د پښو پولې مو دي ګواه سپړلیه
کړی تر تامو دی په شاړه مزل

چې دارمان تنده دې ماته نه شوه
دحسرتونو په لار ژاړه مزل

د مازدیګر ښائست په ځان کې ورک کړم
کوو چې مادسیند په غاړه مزل

دهجران لمر ته مې تنها مه پرېږده
دزلفو سیورو کې رانغاړه مزل

دغه پړاو د فن تکمیل مه ګڼه
طایره نور له خدایه غواړه مزل

Pukhto.Net

## غزل

شبنم که ژوند کوي د ګل په اوږو
خوشبويې باد ګرځوي تل په اوږو

هغو زما مخه رڼا نه کړله
ما چې کوم ستوري ګرځول په اوږو

ډېر يو نزدې يو بل ته ناست مخامخ
زه د ( زهرا ) ته د ( زحل ) په اوږو

د مخ سپوږمۍ دې په کې ورکه نه شي
جوړ دې د ذلفو شو ځنګل په اوږو

د ژوند د هرې حادثې طايره
وړې شي بارونه نن غزل په اوږو

Pukhto.Net
پښتو

## غزل

ډېره موده وشوه خندا نه کوي
د زړۀ پرهر مې دا ادا نه کوي

شومه د څو مره ازميښتونو نه تېر
خو وخت په دې هم اکتفا نه کوي

د نظرونو کائنات پرې ډک شي
او حسن بيا هم انتها نه کوي

مانه په نيمه لاره لاربيله کړي
ما سره خپل سوري وفا نه کوي

دلته د ډېرو اميدونه أوسول
څوک انتظار دلته د چا نه کوي

د ګل په شونډو د ويرونو نغمې
تاسره خوند سپرليه دا نه کوي

د قام وګړي مې په يو رنګه مري
بيا هم يو بل باندې ژړا نه کوي

Pukhto.Net پښتو

## غزل

خور اندام اندام وجود مات قلم قلم بدن
عمر د غربت کې مې شو کړم کړم بدن

أف لمبه لمبه جذبه سوی سوی دا احساس
مړۀ کړل بې دردۍ سره ستا شبنم شبنم بدن

دشته دشته ذهن کې ګل ګل خیال پېدا شولو
کړه مې دلفظو په رنګ ښه رقم رقم بدن

اوس هم یې نظر نظر ګوري یو منظر منظر
ټول کړه کوه طوره خپل خور قدم قدم بدن

دا د وخت طوفان لوبې لوبې کړي ګوره
بیا زخمي زخمي نه کړې ستا الم الم بدن

Pukhto.Net پښتو

## غزل

دلمر شعلې چې شي راښکته سمندر کړې لمبه
په شرق باران کې مې اشنا ستا تصور کړې لمبه

تا د فطرت په دې ادا کله سوچ کړی دی څه ؟
خوشبو خوره شي چې ګل خپل ځان په ډنډر کړې لمبه

هغه سېلۍ خدایه بیا رامهٔ ولې دې کلی ته
چې ښکلا سیزي ښائسته د ګودر کړې لمبه

که اینه کې دې زما د نظر ! ځان اولیدو
تابه جانانه دا خپل حسن قلندر کړي لمبه

هغه لحظې طایره کمې له قیامت نه نه وي
خپل احساسات چې په نغمه کې نغمه ګر کړې لمبه

## غزل

هم ترې رڼا اخلي او هم ګوره لمرونه وژني
دا څنګه خلق دي چې خپل روايتونه وژني

زۀ د خپل ذات د کربلا نه چرته اوتښتمه
شعور مې زړۀ وژني او زړۀ مې شعورونه وژني

ستا د نظر بې پروايې ستا د خندا بې ’رخي
قسم دې زړۀ کې راته ځوان ځوان اميدونه وژني

اې د رڼا علمبردارو سترګې وغړوئ
دا هوا ګانې د مغرب مو څراغونه وژني

سا اخيستل هم په کې کم د لوى عذابه نه دي
دا خاموشي د وخت لمحو کې اوازونه وژني

## غزل

هیلې اسرې خاورې شوې ارمانه تنها پاتې شوم
زۀ د ژوند په دشت کې له کاروانه تنها پاتې شوم

دواړه به په لیک د تندي وژاړو په دې پړاو
تۀ له مانه پاتې شوې زۀ تانه تنها پاتې شوم

ولې دې کړه ورځ داسې چې ستوري سپوږمۍ ورک دې کړل
لرې خو راته وګوره اسمانه تنها پاتې شوم

ما د خپل ریخي ریخي ګریوان ټولېدۀ زده نه کړل
پروت پرهر پرهر بې له درمانه تنها پاتې شوم

پربخودم ملګرو د سفر په داسې ځاى کې چې
زۀ د مرګ او ژوند په برید حېرانه تنها پاتې شوم

Pukhto.Net پښتو

# ستا د تصوير په لېدو

**ګران افغانستانه**

زما په خيال خپسه کينا ستله
زما د ذهن دروازې بندې شوې
زما احساس د خپله برمه پرېوت
زما د فکر انګازې بندې شوې
چې مې د ستا دژوند منظر وليدو
لکه ماښام مې په سحر وليدو

نه شوم د ځان په کيفيت باندې پوئ
چې د کوم مرګ کوم اضطراب نه تير شوم
قسم په خداى منافقت نه کوم
د ژوندون دومره لوی عذاب نه تير شوم
وينې را غونډې شوې زما سترګو کې
اوښکې مې وليدې چې ستا سترګو کې

د ستا د سوي سوي مخ نه لوګی
داسې بارودو کې لمبه کړلې چا
ستا د ژوندون خوشحالی چا لوټ کړلې
دا په غمونو غرغره کړلې چا

ستا د زخمي وجوده قربان
ستا د ستي وجوده قربان

ستا په سينه چې کربلا وي جوړه
تا نه پردو چې وي اختيار تروړلی
څه به خندا کړم داسې حال کې وايه
زۀ يو شاعر يم ستا په وير لړلی
په تا سپرلي موسم غواړمه
لرې له تا نه هر يو غم غواړمه

نن که بې روحه اشنا ستا تصوير دی
سبا له زۀ به په کې سا اچوم
ستا په تياره وجود کې به بيا
د امن ښکلې شان رڼا اچوم

بيا تۀ د وخت ژرنده کې دل به نه يې
څنګه چې نن يې داسې تل به نه يې

Pukhto.Net پښتو

## غزل

هغسې تور دي په لوګو وران ديوالونه د کور
د جنګ سلې مودې وژلي څراغونه د کور

له درواځې نه بهر نيشته دی امکان د امن
سم د ماښامه بندوي خلق ورونه د کور

بس دې تقديره ازميښت څو پورې کوې به په ما
يو تنها يې ده بله شپه ده بل يادونه د کور

هر يو ديوال باندې د کلي تور کارغان دي موجود
سپينو کمترونه خيالي دي تلوال برجونه د کور

په نيمه شپه دلته راځي د الوتکو کاروان
هر چاته خپله کربلا ده انګړونه د کور

بيا به سازګاره خدای ج حالات کړي د ژوندون کولو
بيا به روښانه په ډيوو کړمه تاخونه د کور

Pukhto.Net پښتو

## غزل

څه عجیبه دي کردارونه په قصه کې د وخت
یو په رڼا کې دی خوشحاله بل په شپه کې د وخت

زمونږ د ذات د معرفت حوالې ورکې شولې
ځکه جوړېږي مو تصویر وران آیینه کې د وخت

دلته کې تګ د چا وعدو پسې ساده به کوي
څومره بدلون ښکاري په هره مرحله کې د وخت

چې دغه شپه به د سحر ستوري لري او که نه
دی مبتلا هر یو سړی دې اندېښنه کې د وخت

دلته به څومره خلق وایي د ژوندون سندرې
دلته به څومره وي ژوندي په قافله کې د وخت

زه که په هره لاره ځمه خو تر تابه درځم
لاس په دعا یمه ولاړ په هدیره کې د وخت

Pukhto.Net

نه زهٔ حسين شوم نه زما په حال چا وکړو ماتم
زهٔ په کابل کې که قتليږم يا کوفه کې دوخت

غواړي طايره يوه ښيره د سحر د رڼا
تياره ده ډيره زياته شوې په خيمه کې دوخت

## غزل

سپرلو خو ټول عمر راوړلې د رنګونو جامې
دا ځل مونږ څنګه دې اغوستې د زخمونو جامې

دلته لمر لاس کې دی نیولی د سکروټو تخم
دلته دې شپې کړې دغم د تور تمونه جامې

په چاودو شونډو د سپرلي قصیدې څنګ ووایې
دې څیرې څیرې په ازغو کې د ګلونو جامې

هر سړی پوځ دی چې په هره لار کې جوړ دې مقتل
دې ښار کې نه اغوندي څوک د ارمانونو جامې

په دې وطن باندې بیا نوې کربلا تیره شوه
سرې لوپټې د نجونو شولې د قبرونو جامې

Pukhto.Net
پښتو

## غزل

قدم رېزه رېزه خپل ذات را ټول کړم
د نظر غېږ کې ستا د حسن کائنات را ټول کړم

چې تازه کېږي پرې د ستا د زړۀ زاړۀ زخمونه
په خوله به لاس کېږدم کفن کې به جذبات را ټول کړم

ماته يو ډېر اوږد سفر پروت دی په مخکې ګله
پرېږده چې ځمه په مخ پرې چې سرحدات را ټول کړم

نه به ستا حق ادا شي نه به ستا تصوير جوړ کړمه
د زړۀ اميره که د ژوند ډېر کمالات را ټول کړم

مانه ځان هېر شي ديو خور غم دايره کې ګېر شم
چې ستا يادونه د خپل زړۀ په عرفات را ټول کړم

Pukhto.Net پښتو

## غزل

واړه کائنات لمحه لمحه د چا
وایي دا د حسن ترانه د چا

دا د صداقت علمبرداره ده
چا وې ننګه نه کړې ایینه د چا

هر وختې د ذهن په درشل باندې
وي راته ولاړه تل سایه د چا

شور شو بت کده کې کانو چغې کړې
دا په شونډو راغله نامه د چا

ستوري لمر سپوږمې پرې دليلونه دي
ښکاري په هر څه کې چې څهره د چا

زۀ به زبوري نغمې پرې وایمه
خدایه رالره را خوږه لهجه د چا

Pukhto.Net پښتو

## غزل

شو ستړی د ژوندون له مناجاته هر وګړی
په منډه دی دور ځي له خپل ذاته هر وګړي

په سترګو کې یې شمعې د حسرت په ژړا سرې وي
چې وځي په سفر د خپل ولاته هر وګړي

د طور د جلوې پرق یې په تندي باندې روښان وي
راغلې چې د ستا له ملاقاته هر وګړی

دا دور داسې دی چې له وحدته کفر عام دی
په څنګ ځي بس د مینې له جماته هر وګړی

طایره تعارف له هنرداري ضرور نه دي
څرګند شي بس چې څه دی له خیالاته هر وګړی

## غزل

مایوسي دلته په دا لباس کې راشي
وي سلګۍ خود مسکا لباس کې راشي

بیا به اوګنم منزل ته ورنږدې یم
که سایه زما. زما لباس کې راشي

د تیارو د لښکر خونه به تالا کړي
یو سړی به د عیسی لباس کې راشي

ستوري ښه یو. څراغونو ته خطره ده
دښمنان به د هغوی لباس کې راشي

ستا د یاد د وحشې داسې کیفیت وي
هر سړی راته دا ستا لباس کې راشي

که څلانده لمر پناه شو خفګان مه کړئ
بیا سپوږمۍ به د رڼا لباس کې راشي

Pukhto.Net پښتو

## خوشبونه وینې د رنګونو څاڅي

### غزل

سایه د زلفو او لباس د نور نمونه د شپې
خدائګو دورځې ځینې ډېر دي ښائستونه د شپې

د لمر لهتاوه یې نازک بدن ستي شي
د ازغو شپول کې ګیر شي وا ړه ګلابونه د شپې

د شب پرستو قافلې په دغه لاره درومي
روښان دې نه پرېږدي څوک کور کې څراغونه د شپې

کله نا کله غونډه ورځ کړم ستا په خیال کې تېره
کله ناکله راتېره راشي ستا یادونه د شپې

د ګل په پاڼو د شبنم قطرې څه هسې نه دي
د خدای ج د لورې نازلیږي رحمتونه د شپې

په ویښه ټوله ورځ څېرې د بلاګانو ګورو
له خوفه ډک ځکه طایره دي خوبونه د شپې

Pukhto.Net پښتو

## غزل

د الهام هرې فرښتې په مقدسې نامې
راکړې غزل ته څو مصرې په مقدسې نامې

ما تېرې کړې څو لمحې په مقدسې نامې
شونډې مې دواړه خوږېدې په مقدسې نامې

چې زۀ يې نه پېژنم هغې باندې مړومه زۀ
ماتېروو ژوند د هغې په مقدسې نامې

چې ماښامې شي سايې هم شي دوجود دننه
پاتې اتبار نه دی د شپې په مقدسې نامې

د مصلحت له سرحدونو نه به واوړو سره
پورته د مرګ به کړو پيالې په مقدسې نامې

## غزل

برکت اخلي ستا له قرب او له دياره خلق
خو ما خو ورځ په ورځ اوباسي د خپل شماره خلق

بيا کوم سړی راځي دې ښار ته د فريب لباس کې
راغونډ دي بيا په دې کوڅو کې چا د پاره خلق

په هره سخته کې به تهٔ د خدایؒ رحمت شوې په دوئ
حضره راځي که نه بس مري له انتظاره خلق

دا ويره خوف به وي ترڅو د دوئ په زړونو ديره
غواړي ارام تنګ شولو ډير له انتشاره خلق

اسمانه څومره درنزدې ) دي آمخلص وګړي
څومره ستانه شو له کاروان په نيمه لاره خلق

پوهيدهٔ غواړي په منصب د خدائې اوس طايره
دا چې بيدار ستورو ته ناست وي تر سحاره خلق

Pukhto.Net پښتو

# خوشبونه وینې د رنګونو څاڅي

## غزل

نه د ګلاب په څیر نازک او نه د غرونو په رنګ
وختونه هم شول بې اتباره بس د زړونو په رنګ

کوم اضطراب لیوني کړي ددې کلي خلق
غمجن غمجن دي د خاموشو ماښامونو په رنګ

یو وار تالا شو بیا کوم بل ښاغلی رانغلو پرې
زړۀ داسې وران پروت دی د شاړو کودرونو په رنګ

د لمر د څیرې سره خلقو له نظره ویستل
چا چې سبا کړه شپه په ځان د څراغونو په رنګ

Pukhto.Net
پښتو

نه به عذاب وي سخت بل هجره ستا له دې لمحې نه
نه به ژوندون وي خوږ اشنا ستا د یادونو په رنګ

دا خو حالات دي چې شو تګي د یو بل د وینو
ګینې یو کور کې وسېدلو د دوه رونو په رنګ

نه د هغې له یاده ووتم نه ما هېره کړه
شول که اغیار طایره جوړ د دیوالونو په رنګ

## د ژوند رنګونه

ما د خپل فکر په بنیاد تا ته جواب درکړلو
خوره اشنا تا چې د ژوند په باب کوم سوال وو کړی
ژوند لامحدود دی سلسله ده سرحدات نه لري
ژوند د خزان او د سپرلي پورې محدود نه دی
ژوند که تیاره ده ستا د تورو زلفو اشنا
ژوند ستا د سپین مخ د ښائست او د رخسار رڼا ده
ژوند که خبره د پښتون ده په یوه جامه کې
ژوند ستا د رنګ په څېر سحر یو ـ ماښام بل رنګه وي
ژوند که نامه د ارتقاء ده مخ په بره تلل دي
ژوندون څه توکه نه ده ښکته پریوتل هم لري
ژوند که سکون لکه د ګلو هار په غاړه ګرځي
د ژوند لمن د اضطراب ځینې خالي هم نه ده
ژوند که ودرېږي نو وجود له یې زوال پېښیږي
ژوند حرکت دی حرکت له جمود مرګ دی اشنا
ژوند که قیصه د محبت ده د لیلي او مجنون
ژوند خپله غېږه کې نفرت لره ځای هم ورکړی
ژوند که رښتیا وایم د دوه زړو د درزا نامه ده
ژوند په ښائست دیو نظر په خوږ بدو بنا دی
ژوند د خپل ذات په دایره کې هیڅ معنی نه لري
ژوند د شطرنج په شانې ټول په تجربو بنا دی

Pukhto.Net

## هستي

ما د مودو راهیسې
سایه دخپل وجود مې
په خپلو سترو اوږو
تر دغه ځایه پورې
ځان سره یو ځای راوړه
خو چې په نیمه لاره
له مانه بېله شوله
لاړه هغه ورکه شوه
په نابلدو لارو
زۀ هم بلا د جمود
په لاره اوخوړمه

Pukhto.Net

## ښاخ

زۀ يو ښاخ ومه يو وختې
يوه لخته ووم د ونې
خو دوخت بدلون چې راغی
او حالات بدل شو
هغه يو ښاخ چې وم مخکې
بيا په څو ښاخو بدل شوم
يو وجود مې شو څو څانګې
او په څو طرفه لاړو
د هر يو سپرلی جدا شو
د هر يو سيوری شو ځان له
د هر يو خزان شو بيل بيل
چې دوخت تغير ته ګورم
په خپل ځان هيڅ نه پوهيږم

د زمان د پردې لاندې
د مکان سوري دننه
د رڼا غوندې خوريږم
خو د شپې غوندې په بيرته

د تيارو څادرکې غونډ مونډ
خپل ماضي ته تللی نه شم
د ژوندون په ګوډ پيرونو
دفطرت دغه تقسيم ته
څه نامه ورکړمه وايه
چې ترڅو به داسې خوريم
کنه بيرته به راټول شم

# ارزو

## له يوه اردو شعر نه په الهام

ای د ښکلا غلاف کې پټې درد يدلې ارزو
ته د جذبو د صداقت ترجماني چې کوې
ستا د عظمت د تقدس نه زه انکار نه کوم
څکه چې ستا دا نا قراره سوې سوې څرېکې
زما په زړه کې د يو نوي ژوند احساس ټوکوي
ما ته د ژوند د بلها لارو اميدونه راکړي
خو ولې ما ته دي پراته په سر بلها کارونه
ما خپل ضمير فقط په تا پورې محدود نه پرېږدي
څکه چې ژوند خو اخر ژوند دی افسانه خو نه ده
دې کې بلها ډېر کردارونه دي ته ښه پوهېږې
يوه مسکا شونډو ته راشي خو سلګۍ ډېرې دي
يو ته خو نه يې اشنا نورې مجبورۍ ډېرې دي
څه ته په خپله انصاف وکړه فقط ستا څنګه شم
زه دا حالات نظرانداز کړم بې وفا څنګه شم

Pukhto.Net پښتو

## غزل

ګلان د خلقو او ازغي زمونږ په برخه باندې
وي به همدا سې زندګي زمونږ په برخه باندې

د وصال يوه لمحه مو وليدله پس له هغې
شوله تر عمره جدايې زمونږ په برخه باندې

خلوص وفا مينه ښکلا او رڼا ستا د پاره
د دغه ټولو ده قحطي زمونږ په برخه باندې

خوشبو د ګل وا خلي خوبوئ شي د بارودو پر مونږ
بد شو باد ونه د سپرلي زمونږ په برخه باندې

لکه لمر ګلي ګورو ټوله ورځ د لمر څهرې ته
شي په ماښام کې تنهايې زمونږ په برخه باندې

Pukhto.Net پښتو

## غزل

عکس دې خو د ګونګې آيينې له قيده وتی دی
حسن لازوال د زمانې له قيده وتی دی

هغه چې راګېر د فريبونو په منتر کې وو
نن هغه سړی. اشنا منې له قيده وتی دی

هلته بيا طوفان د حادثو خېمه وهلې ده
چرته چې وخت هم د دايرې له قيده وتی دی

څو ستورو رڼا د ژوند تری سترګو کې اخيستې ده
لمر چې د دې تکې تورې شپې له قيده وتی دی

بيا مې دا راتلونکی ماښامی د بخت سپېرۀ نه شي
فکر مې طايره د تيارې له قېده وتی دی

Pukhto.Net
پښتو

# خوشبونه وینې د رنګونو څاڅي

## غزل

عجب سړی یمه ګلاب د بیابان نه راوړم
راځه فکرونه ستا د زلفو شبستان نه راوړم

په ورو سترګو باندې څه عجب خوبونه وینم
وړو لاسونو باندې ستوري له اسمان نه راوړم

زما باګرامه تا به هار کړمه د خپلې غاړې
تا ته به ګل د محبت افغانستان نه راوړم

منم چه ته مې د خزان ژوندون سپرلی شولې خو
خالي جولۍ ستا د وعدو له ګلستان نه راوړم

ما د ګمان د دایرو دننه وخت تېر کړی
د سبا زیري د دوه کرښو د امکان نه راوړم

## غزل

د ژوند ښائست ته لباسونه د ښکلا کړئ په ځان
اى ! حريفانو د تيارو سپينه رڼا کړئ په ځان

د خاموشۍ دستور خو هسې هم بس مات شو يو ځل
د حسين ياد لره جامې د کربلا کړئ په ځان

په سره غرمه کې به محتاج د بل د ونې نه يو
زۀ ستا سو سورې ته ځم تاسو سورى زما کړئ په ځان

هندارو څو پورې به چوپه خله ځهروته ګورئ
ګردونه څنډوهئ له ځان ځينې غوغا کړئ په ځان

بيا نو دا لارې سر کول ګرانه خبره نه ده
خو که مزل ته د همت جامې رښتيا کړئ په ځان

## غزل

تل مې د ظالم خلاف نعره کړې
دا مې خپل ضمير سره وعده کړې

ځان به د خپل ځان په مرګ ژوندی کړمه
دا ځل مې داسې اراده کړې

ګوره نو چې کله به مې خوري خلقه
ما د يو خمار سره رشته کړې

چرته کربلا چې ياده شوې ده
هلته مې د خپل وطن قيصه کړې

يه چمنه تهٔ په ما ازغي پاشې
ما خو ستا د ګلو خصمانه کړې

## غزل

ګمان پرېږده بس خپل ځان نغاره د يقين لباس کې
حسن کعبه ده او کعبې ته ځي خلق سپين لباس کښې

زۀ که يو ستوری وم يو وخت په دې شينکي اسمان کې
خاوره وم راغلم خپلې خاورې ته خاورين لباس کې

بيا کوم حسين خپلې خيمې ته په ستنه راغلې
چې خلق سر دې بيا په وير په تور غمګين لباس کې

که مې د اوښکو تاودۀ څاڅکي په کې لاره وکړي
پټ يو زړګی دی ذدې کاڼي په سنګين لباس کې

پرانزي شوندې چې ګلاب خوشبو خبرې کوي
راز د ژوندون شي راښکاره په ګلورين لباس کې

## حسن سپينه اېينه ده !

د قدرت په خزانو کې
د فطرت په نښانو کې
په سينې د کائنات کې
د انسان ښکلي وجود کې
يو قوت د جاذبې دی
منحصر دا په جذبې دی
د خارج او د باطن. د
امتزاج ځينې زيګيږي
هميشه وي لازواله
هسې نه چې فنا کيږي
دا خبره د جذبې ده
چې ښکلا په يو وجود کې
کله لږه کله ډيره
کله يو شان کله بل شان
داسې مونږ ته محسوسيږي
ګينې حسن په خپل ذات کې
يو کامله نمونه ده
د فطرت د قوانينو
يوه لويه نښانه ده
د انسان د تخليق راز دی

حسن سپينه ايينه ده

# د ګل د شونډونه به وينې ښاخې

( سندره )

زه که نغمه د محبت او مينې وچېړمه
د ګل د شنډو نه به وينې ښاخې
وير به شي جوړ که د زړه راز نيازبينې وچېړمه
د ګل د شونډو نه به وينې ښاخې

زه، چې په دار د احساس ځوړند شم نو بيا وګوره
زه به نيستي کې هم هستي شم ياره
د مازيګر د خمارډک جام کې بيا ما وګوره
زه به سرور زه به مستي شم ياره
زه چې د وخت په تندي خال شم نو اشنا وګوره
زه به ښايست د زندګي شم ياره

زه که د وخت په دار خبرې سپينې وچېړمه
د ګل د شونډو نه به وينې راځي

هر څه، چې کېږي خير دی کېږي دې پروا مه کوه
ژوند دلته مينه غواړي مينه غواړي

## خوشبونه وينې د رنګونو څاڅي

په دار ختل غواړي جانانه، ته ژړا مه کوه
دا دور وينه غواړي وينه غواړي
ماتول غواړي دا رواج وېره له چا مه کوه
خبره سپينه غواړي سپينه غواړي

زه به هم مستي شان نغمې رنګينې وچېړمه
د ګل د شونډو نه به وينې څاڅي

چې توره شپه شي او د ستورو قافلې تېرېږي
زاړه غمونه مې د بېره شي په زړه
ستا تصويرونه مې د ذهن په پردې تېرېږي
دا ستا يادونه مې د بېره شي په زړه
طايره دا رنګه غمونو کې مې شپې تېرېږي
سوزم اورونه مې د بېره شي په زړه

زه که يو تار د خپل تېر وخت شېريني وچېړمه
د ګل د شونډو نه به وينې څاڅي

## غزل

دا يــو دســتار او يــوه تــوره مــې ده لاس کښــې پــاتې
نــور رانــه ورک شــو هغــه څــه چــې وو ميــراث کــې پــاتې

يــا تــهٔ بــدل وې چــې مــې ولېــدې بــدل نــه شــومه
يــا بــه مــې هاغــه شــان شــدت نــه و احســاس کــې پــاتې

طمعــه د ګــل مــهٔ کــړئ ملګــرو پــه خوشــبو مينــو
پــه دې چمــن کــې دې ازغــي د ګــل لبــاس کــې پــاتې

زمــونږ د ژونــد د المیــو د روســتې پــړک د پــاره
راځــي بــه ســتوري خامخــا چــې دي وســواس کــې پــاتې

لا خــو طــاير هــم حوصــلې خپلــې بــايېللې نــه دي
وختــه کــه څــو ګوټــه دي زهــر ســتا ګــلاس کــې پــاتې

## غزل

چـې ازاد نــه يــو لــه ګمانــه اطمينـــان راشــي دکــومې خوانــه
وجــود لــرو خــو بــې مکانــه اطمينـــان راشــي دکــومې خوانــه

بــې لــه ســارۀ ســارۀ اهونــو څــه دي پــاتې پــه زخمــي زړونــو کښــي
وغمېــدې پــه مــونږ دورانــه اطمينـــان راشــي دکــومې خوانــه

نــه ماتيــدونکې سلســلې د خاموشــۍ مــې شــوې ديــره پــه ذهــن
يمــه خپــل عکــس تــه حيرانــه اطمينـــان راشــي دکــومې خوانــه

پــه خپلــو ســترو قــدمونو بــه واپــس شــم دخپــل بريــد پــه لــوري
تــا پــه مــا څــه وکــړل ارمانــه اطمينـــان راشــي دکــومې خوانــه

د خپلــو پښــو دلانــدې زمکــې پــه وجــود بانــدې څنــګ شــک ونــه کــړم
تــۀ مــې لــه ســر لاړې اســمانه اطمينـــان راشــي دکــومې خوانــه

## غزل

لــه ځانــه زغلــو دخپــل ځــان پــه ســویري ونــه دربــدو
دوخـــت غرمـــه کـــې دارمـــان پـــه ســـویري ونـــه دربـــدو

مـــونږه کـــه هـــر څـــو د تـــدبیر پـــه زور تقـــدیر بـــد لـــوو
داســمان لانــدې د اســمان پــه ســویري ونــه دربــدو

د محبـــت د قـــافلو لارې پـــه دشـــتو شـــولې
تنهـــا لمحـــې دې د جانـــان پـــه ســـویري ونـــه دربـــدو

عمـــر مـــو تېـــول د ژوندانـــه پـــه نـــاکړدو کـــې تېـــر شـــو
یـــوه لحظـــه هـــم د دوران پـــه ســـویري ونـــه دربـــدو

دا اراده لـــرو چـــې ځـــان بـــه تـــر تـــا ورســـوو
کـــه لا تراوســـه دا مکـــان پـــه ســـوري ونـــه دربـــدو

Pukhto.Net پښتو

## ګلوبلائزیشن

زۀ دا منمه
چې دا ګرده نړۍ
تۀ یو کول غواړې
دا سرحدونه
قدغنونه
بندیزونه
رواجونه
فاصلې
له مینځ نه وړل غواړې
ته رورولي
انسان دوستي
او خوشحالي غواړې
هر یو انسان دپاره
د شین اسمان د لاندې
تۀ دا په مزکه وایې
او ښۀ په کلکه وایې
چې نفرتونه نه وي

Pukhto.Net
پښتو

# خوشبونه وينې د رنګونو څاڅي

غلا ظتونه نه وي

اذيتونه نه وي
مصيبتونه نه وي
د انسانانو په ذهنونو کې دي
د دوئ فکرونو او سوچونو کې دي
د دوئ حرفونو او لفظونو کې دي
د دوئ علمونو تاريخونو کې دي
يوه خبره راشي
يو خيال دې ځاې اومومي
چې د غه ګرده نړۍ
د يو کور شکل واخلي
او بې خطره دې ټول
په هره لاره درومي
تا دې مقصد دغې مرام دپاره
داسې قانون داسې نظام دپاره
يوې مودې نه منصوبې ترلې
ورته دې نوم د ګلوبل ويلج ورکړو
ستا دغه سوچ د ژوند په هر پړاو کې
د دې نړۍ داوسېدونکو خلقو
بس په اعصابو نقش شوی ښکاري
اوس خو دا ستا مرام د ګردې نړۍ
يو ضرورت جوړ شوی

ځکه دهر وګړي
په خوله کې ستا ژبه ده
او ښۀ په زوره وايې
راځئ چې يو شو يوه چغه وکړو
ښۀ په ښکاره او ښۀ په نره وکړو
چې د نړۍ مظلومان
له اذييته خلاص شي
له مصيبته خلاص شي
دهشت ګردي ختمه شي
تره ګري ختمه شي
د امن زيري وشي
او دا جنګونه ورک شي
زۀ هم په دغه چغو
ستا په مکاره ژبه
ډير تېروتلی ومه
ډير غولېدلی ومه
ستا په نعرو مې اعتماد کولو
زۀ ستا مقصد سره ملګری ومه
خو دتکميل په درشل
ګام اخيستو نه مخکې
چې د شعور د لمر په وړانګو کې مې

Pukhto.Net
پښتو

## خوشبو نه وینې د رنګونو څاڅي

څه وخت سا واخیستله پوهه شومه
او د ادراک د کیفیت په اور کې وسوزېدم
بیا د احساس د څپو تلې مې چې تنها کې شولو
ستا د وهمونو قافلې نه چې په شا پاتې شوم
نو د سراب لباس مې ورو ورو کوزېدهٔ له تنه
د حقیقت رڼا مې ورو ورو خورېده په ذهن
د تلوسو د ارزوګانو غېږ کې
دې نتیجې ته اخر ورسیدم
چې ستا نه مخ کې په دې پاکه زمکه
څومره جنګونه شوي
او څومره وینې توی دي
فقط د دې په خاطر
چې د نړۍ دا اقتدار څنګه په واک کې واخلم
د اقتدار د غه زاړهٔ خوب لره
تا نن تعبیر په نوي رنګ راوړی
د دې دنیا د مختلفو خلقو
ډیر مختلف خیالونه
تهٔ یو کول غواړې
او په رنګونو دا رنګینه دنیا
یو رنګ کول غواړې

خو ولې تا ته جوړ دا پته نیشته
ته په دې نه پوهېږې

## خوشبونه وينې د رنګونو څاڅي

د تهذيبونو د قومونو د تضاد په بنياد
دغه ولاړه دنيا
د يو رنګې په اور کې
ايره ايره لوګې لوګې به شي بيا

ځکه چې دغه د قدرت قانون دی
او د فطرت عمل دی
چې د تضاد په لاره
او د وختونو غيږ کې
ژوند پر مختګ کړی دی

Pukhto.Net
پښتو

## غزل

په لوري د یقین چې د فکرونو کډې لاړې
((د ذهن مملکت نه د وهمونو کډې لاړې))

سکني سکني ماښام کې د انجام په راز خبر شو
له خوانه مو چې کله د لمرونو کډې لاړې

مونږ دومره سترګور شو د ښکلا په تصور کې
نظرنه مو اشنا د سرحدونو کډې لاړې

د چا په یو نظر کتو اباده ابادي شوه
دې د شتې نه د زړۀ. د حسرتونو کډې لاړې

د جنګ لښکر و ځان سره راوړې شوګیرې دي
تعبیر مو دی نیمګړی د خوبونو کډې لاړې

بیا لارې څاري ستوري د زړۀ سترو کاروانونو
چا ولېدې که نه د ارمانونو کډې لاړې

زۀ ورک یې په خوشبو کې د وجود و مه طایره
پرې پوهه نه شوم چې کوم خوا د ګلونو کډې لاړې

Pukhto.Net

## غزل

هسې دې نه وايې دا خلق چې هنر نه لري
پښتانه هر څه شي کولی خو رهبر نه لري

د ژوند سفر په مخ روان دی اختتام يې نيشته
د ژوند کاروان له کومې خوا راغې چې سر نه لري

هغه د ژوند د جستجو په لذت څه پوهيږي
څوک چې دې يخ سوري ته ناست او په سرلمر نه لري

دوخت د هرې قتل ګناه نه تيرېدل پکار دي
داسې شپه نيشته دی اشنا چې به سحر نه لري

داسې کيد اشي چې فن وي ولې فنکاري يې نه وي
دا به څوک او مني بتان شته خو ازر نه لري

د توازن تر حده ګوري د هر څه باطن ته
د ستا طاير غلچکی زړۀ باغي نظر نه لري

## غزل

د ژوند په لار په هر قدم خوري تیندکونه لویږي
د زلفو چم کې دې د فکر مینارونه لویږي

الله خبر ! د موسمونو رخ بدل ولې شو
اوس هر موسم کې په دې زمکه تندرونه لویږي

دا خو قانون دی د فطرت دا تجربه شویده
سیزي سینه به د هوا . که څراغونه لویږي

چې د وطن ملالۍ رانه کړي پېغور د ماتې
شملې به هسکې ساتو خېر دی که سرونه لویږي

د سپرلي باده چرته لاړې چې بیا رانغلې ته
د دې چمن د ګل غوټو تاپسې زړونه لویږي

لکه خزان راشي طایره په سمسور وطن کې
چې حافظې نه مې د ستا د یاد عکسونه لویږي

# نظم

هغه سکنی ماښام هغه خاموشه فضا
هغه د غرځنه د زيړي لمر ډوبېدونکې لمحې
هغه د ترو نظرونو سانحه د شدت
هغه د دوه زړونو درزا آ. بوګنونکې لمحې
ای. د ښکلا د ښار اميرې تاته ياد شي که نه
هغه ړومبی ځل ملاقات هغه ړومبي مخ کيدل

هغه منظر هغه سينو کې طوفانونه د اور
هغه نری نری سيلۍ هغه ساړهٔ بادونه
آسندريز شور د ابشار آنظارې د فطرت
هغه نازونه او مستۍ هغه ساړهٔ بادونه
ای. د ښکلا د ښار اميرې تاته ياد شي که نه
هغه ړومبی ځل ملاقات هغه ړومبي مخ کيدل

هغه اوتر اوتر نظر آ. ورخطا خيالونه
هغه چې تنده د وصال به زياتېده په وصال
هغه چې دواړه ترقېدو داضطراب په بټ کې

Pukhto.Net

هغه په مونږه چې شیبه نه تېرېده په وصال
ای. د ښکلا د ښار امیرې تاته یاد شي که نه

هغه ړومبی ځل ملاقات هغه ړومبي مخ کېدل
زۀ خو چې کله شم تنها په ځان هیڅ پوئ نه شمه

نو حافظې ته مې دستي دا منظرونه راشي
خدای ج شته چې زړۀ مې لړ راتول شي لږه سا واخلمه
ذهن ته تول هغه خوارۀ خوارۀ یادونه راشي
ما چې دستا په لور دیو نظر خطا وکړله
تا بانۀ نیغ کړل پښه لبمو کې دې مسکا وکړله

# خوشبو نه وينه د رنګونو څاڅي

دلته احساس زخمي زخمي ولاړ دی
په دايره کې د مرګي ولاړ دی
دلته هر څه دي د حدونو پابند
اسمان د زمکې په زړګي ولاړ دی

دلته سپرلي ښۀ په جوبن کې راشي
خو قتل عام د سرو ګلونو کيږي
څوک چې د ژوند کوو غوښتنه کوي
تابيا هغوته د دارونو کيږي

ګوري چې ښې خوب د ازادۍ د ناوې
شي هم هغو ته زنځيرونه انعام
دلته چې مرسته د حسين کوي څوک
ورکړي يزيد د وخت زخمونه انعام

د مرګي خوف دی راخور شوی دلته
ځکه بې رنګه ماښامونه ښکاري
دلته نغمو نه هم ساګانې وتې
پيکه پيکه ټول منظرونه ښکاري

Pukhto.Net

## خوشبونه وينې د رنګونو ښاخي

دلته سپرلی په چمن زهر پاشي
تنکی ګلاب په یو عذاب کې ډوب دی
خوشبو نه وینه د رنګونو ښاخي
هر یو احساس په اضطراب کې ډوب دی

Pukhto.Net
پښتو

څلوريزه

خپل ازمېښتونه څو څو ځله په انسان وروي
د وخت سفر کله ازغي کله ګلان وروي
د خيال اسمان نه مې اشنا ستا د يادونو په وخت
د احساس وربځې په شيبو شيبو باران وروي

Pukhto.Net

څلوريزه

په خپل وجدان باندې باور پکار دی
هر څه چې وي خو يو نظر پکار دی
مونږ به ډيوې د اميد بلې ساتو
هر څو که شپه ده خو سحر پکار دی

څلوريزه

په هره لار چې تلمه ما په کې تيندک خوړلی
ځکه چې ما په تندي غشی د فلک خوړلی
د کلي ټول ژنې د واچوي بنګړي لاسو کې
د دوئ د برخې مال په ځيږ تندي ملک خوړلی

## څلوريزه

نامه د مرګ وه پاتې نه وه د نښانه د مړي
د خود کشۍ پېښه کې شو بدن ايره د مړي
وخت ده تروړلې د هر چا د اننګونه سرخي
دلته په هر چا باندې شوې ده سايه د مړي

## څلوريزه

لکه که لمر لوېږم ـ خو خېژمه زوال نه راځي
دا يو کمال لرم له دې نه بل کمال نه راځي
فراق زمونږه په تړون څه داسې لوبې وکړې
چې اوس مې ذهن ته بېخي ستا خط و خال نه راځي

Pukhto.Net



## د ځلاند خیال ځلانده پلوشې

وایي چې لېږد او هجرت د مدنیتونو د راکړې ورکړې او لېږد رالېږد لومړۍ پوړۍ او پړاو دی زموږ د دیني او سیاسي هجرت دې دریې لسیزو بهیر هم همدا کلیه ریښتني جوته کړه د پر څه مو هجري ټولنې ته له ځانه سره وروړل او همداسې مو د سپېڅلي جهاد تر سوبې او بري وروسته د پر څه له ځانه سره افغاني ټولنې ته راوړل د د پرو نورو راکړو ورکړو تر څنګ مو د کلتوري او ادبي بدلونو نورسی هم ښه سره مضبوطه و غړله په تېره په کوزه پښتونخوا کې د شعري او غزلیز بهیر په لړ کې زموږ ځېلنځي اغېزې ځانګړی ځای لري، زموږ ځوانانو ته د هنري غوړېدا له لپاره د هجرت پښتون چاپېریال یوه ښېرازه کرونده جوته شوه، په همدغو ښېرازو هنرمندو ځوانانو کې یو هم زموږ زلمی هنرمند شاعر ښاغلی طائر ځلاند دی چې د شعر توتي یې د کواټې په سردرو کې د فرق او بېلتانه کوکې وایستلې د غزل په رنګینتو او باریکیوېې د ځپلې تنکی او سپېڅلي میني نغمې وغږولې ځپلې ټولنیزې ناخوالې یې په هنري ښه

انځور کړلې، او په ځوانو شاعرانو کې یې د یو نوښتګر او غزلبول شاعر په نوم ځپله پېژندګلو جوړه کړله چې دا دی دا لومړۍ ټولګه یې د یو مینه وړي او سینه سوي انځور په توګه در ډالی ده هیله ده چې د ځلاند په څېر سینه سوي او هنرمند ځوانان به یې په مینه و نمانځي او دخیال په پلوشو به یې د ځپلو هنري ذوقونو تیارهٔ ګوډونه وځلوي، په همدې هیله

محمد اصف صمیم

ننګرهار

۱۳۸۶-۱۰-۴